Farhad
Publications

# شاعران

د ریا زاهـــدان سپي د دوزخونـــو
شاعران خو شاګردان د ښکلي رب دي



## شعري ټولګه

ټولونکي: فرهاد

www.sikaraam.com

بسم الله الرحمن الرحيم

# ډالی

هغه چې د شعر په اوريدو يې
د زړه زخمونه ټکور اخلي.


کتاب پيژندنه

دکتاب نوم    شاعران

ټولونکي    فرهاد

کمپوز او تايپ    فرهاد

خپرندوی Hamas Publication

د لازياتو معلوماتو لپاره:

۰۷۸۳۱۳۱۶۹٤

## دلوی خدای په نامه

شاعران يو په نغمو يا ددو خدای
ښکلي ګورو په لېمو يادوو خدای
خدای بلد کړو د توبو په ماتولو
غړپ کوو له پيمانو يادوو خدای
شيخ د کاڼو په تسپو يادوي خدای
موږ د اوښکو په تسپو يادوو خدای
د ژوندون په ګوتو برګې تسپې وايو
هم په ورځو هم په شپو يا ددو خدای
يم هېرجن چې هېر مې نشي راته خانده
ستا له شونډو اننګو يادوو خدای
آيا تونه دې په سترګو کې موسکې دي
ستا له سترګو پښتنو يادوو خدای
موږ کاروان د لېونو آزادي غواړو
په کړۍ د زولنو يادوو خدای

پيرمحمد کاروان

## غزل

انګښي يې دومره سره په څه سبب دي؟
عجيبه ده جنتونه په غضب دي

ښکلي مخ ته خامخا سترګې ور اوړي
بوراګان خو د ګلونو په مذهب دي

د ريا زاهدان سپي د دوزخونو
شاعران خو شاګردان د ښکلي رب دي

وې يې سترګې مې درياب دي درومه ورې دې
ما وې نه ځم عادتونه مې د کب دي

ستا بانه مې د زړه جيب کې وهي ګوتې
لکه شوخ ماشومان څومره بې ادب دي

پيرمحمد کاروان

## په جانان مين

پرېږده چې په دار مې کړي په ځان مېن
وايمه چې يمه په جانان مين
وينې د احساس مې ښکلې نه غواړي
موړ شه په غميو د پېزوان مېن
ستن مې کړ قلم تار يې غزل غزل
شوم د لېونيو په ګرېوان مېن
خدايه نه راځي عزيز د مصر شو
دا به يوسف نه وي په کنعان مېن
مه ما توه زړونه خو لعلونه دي
خله ژړوې په بدخشان مېن
بس دی بلبلان په غشو مه ولئ
پرېږدئ په لاله په ارغوان مېن
وايم چې خزان دې هډو نه ليدای
دومره دې يم ګله په ارمان مېن
زړه دې رانه يووړ او جرس دې کړ
ښکليه اوس به خود شې په کاروان مېن

پيرمحمد کاروان

## د ختن تلوسه

لا مې لېمې په اوښکو مستې نه دي
د سلګو غوټې مې پرانستې نه دي

په تا ایت د موسکا کله راځي
ما ستا د خولې سیپارې لوستې نه دي

د زړګي تاک یې راته ونښتیځه
چاوې نغمې مې مې پرستې نه دي

زما زلمي نظر ته ناوې نه شوې
سترګو دې سرې جامې اغوستې نه دي

زړګيه خال شه په تخت وکړه یرغل
د وروزو تورې یې پیوستې نه دي

دښته د خیال مې تلوسه دختن
ورکې هوسۍ لا چا راوستې نه دي

پیر محمد کاروان

# تنهاکې

ګوتې تنهاکې په زړه هم تنهاکې
څه چې لیکم شي په قلم تنهاکې

وریمې رندي وې خدای زده چیرته لاړې؟
دګل په سترګو د شبنم تنهاکې

د لیمو فرش مې ورته وغوړوئ
هسې نه پښې شي دصنم تنهاکې

ما نه سپیرې صحرا سپرلي وغوښتل
اوس په اغزو کې لوبوم تنهاکې

درد مې د عشق رباب کې ځالې وکړې
په زیر تنهاکې او په بم تناکې

پیرمحمد کاروان

## غزل

په زړه مې ولې راوريږي څه باران خو نه يې
هسې مې درد راوپښوې ګرانه درمان خو نه يې

دمخ په پاڼه به دې څه خوږه غزله ليک وي
سپينه کتابه يادوم دې دومره ګران خو نه يې
د خيال هد هد دې څومره ګڼ ګڼ پيغامونه راوړي
دا مې خطا وه چې ويل مې سليمان خو نه يې
ما به بې وخته ليونی کړې په اغزو به ګرځم
غيږ به رانه کړې ښکليه باغه بيابان خو نه يې
د ژوند د وچ ساحل په مخ مې لمدې شونډې نه ږدې
شنه سمندره زه دې څه کړمه توپان خو نه يې
د نور په غشو مې له هسک نه په ليمو کې ولې
نه راځې ستوری د آسمان شوې مهربان خو نه يې

ښکليه سالار مې که دعشق د منزلونو کړې
بيا راته وايه چې درواغ وايې کاروان خو نه يې

پيرمحمد کاروان

## د شپو نهنګ

د ګل په قبر يې جنډې کړې د بورا وزرې
د زړه فرياد مې کوي عرش ته د دعا وزرې

د يار په در کې رقيبانو دومره ووېشتلو
چې له کچکول سره شوې ماتې د ګدا وزرې

شوه غلبه د شيطانانو د انسان په مېنه
لږ خو خپرې کړه جبرئيله په دنيا وزرې

رېلۍ د اوښکو د ژوندون په مارغه ووربېده
اوس يې پرواز ته نه جوړېږي د خندا وزرې

خدايه رنځوره ښکلې بيا کړې د ښکلاوو ميره
چې مې رانده نظر ته ورکړې د رڼا وزرې

موږ يې په تشو ګوګلو کې زړونه و ښښتېځل
ګوندې زموږ ډېوې هم وکړې د برېښنا وزرې

د شپو نهنګ به کله ووژني د نور په نېزو
سحر چې وغځوي سيند کې د طلا وزرې

پیر محمد کاروان

# د اشنا مينه

سحر ماښام يې په سوالونو غواړم
ښکلی اشنا په زيارتونو غواړم

لکه شبنم يې منت بار شومه زه
ګل نه مچکې په لعلونو غواړم
ستا په درشل کې خو تش بد ليدل شي
خير د ديدن په کچکولونو غواړم
بهار به څه کړم بې له تا صنمه
زه خو رونق د بهارونو غواړم
مېن زړګي مې وچ کودې نيولې
بيا دې په ډکو ګودرونو غواړم
په ورځ مې هېر نه يې باور دې وشه
په نيمه شپه دې په نفلونو غواړم

چې په کې ستا مينه ونه سوځېږي
مرهم په سوو پرهرونو غواړم

پيرمحمد کاروان

یو څو ښکلي رندان به میخانې ته راولو
لښکر ګلان به للمې زمانې ته راولو

ما زړه ستا د وعدو د لاسه شین راوړی دی
ستا سپینه خولګکې به بهانې ته راولو
شپه راغله ځئ وزرې د رڼا ور واغوندو
ډیوه به وزرسوې پروانې ته راولو
یادیږي مې نن بیا د نیزه بازو نجونو جنګ
د چا ملالې سترګې یارانې ته راولو
دیوان به راګوزار کاندو له تخت د سلیمان
رښتینې شاپیرۍ به افسانې ته راولو
جنډې د سخي جان به مې جانان ورپوي
سرتیري ملنګان به نذرانې ته راولو
چې پرې کړې د مغلو د بتانو کپرۍ
پښتون د آزر زوی به بتخانې ته راول

د غرونو د ځنګلونو دی ګړا ته شوی زړه
کاروان به یوې مستې ترانې ته راولو

منم په هر څه کې احتياط منمه
خو يو په مينه کې افراط منمه

ځم له مجنون سره مسلات کومه
نه د سقراط نه د بُقراط منمه

تاسره هر جامه ښه ښکاريږي
دا هنر کله دخياط منمه

کاروان که ومري سکې هم نه لري
خوږې سندرې يې په سقاط منمه

خدای په کې ښکارې له هندارې جوړدې دا لاسونه
له خپلو اوښکو نه يې ډک دي د دعا لاسونه
څه کشمالی شمال يې ستا د مستو څڼو راوړ
نرګس له شرمه په اوبو کې وهي بیا لاسونه
ظالم پاچا کړی اعلان دی چې بس ټول غوڅوي
که بیا چمبو ته غځیدلي وو د چا لاسونه
د اوبو تږی نه یم بلې تندې واخیستمه
ښکارې اوبو کې سپينې تورې د لیلا لاسونه
د ښنتر څڼو کې د شپې، زرینې ږمنځې وهي
سپوږمۍ په پور واخلي له ستورو د رڼا لاسونه
تنش لاس به ولې یم کاروان غزل په لاس کې لرم
ما هم د چا په مخ کې ښکل دي د مولا لاسونه

هغه افغان ګل یې چې ګلچین به مسلمان کړې
هند به مسلمان کاندې او چین به مسلمان کړې
ستا خوږې خبرې کرامات لري شکرې
جار دې شمه ښکلي نازنین به مسلمان کړې
تورې برګې سترګې دې د ستورو ډکې شپې دي
ناز دې که لږ وینې شي تور او سپین به مسلمان کړې
زرکې او کوترې خودې هسې هم ملګرې
باز به دې غلام شي او شاهین به مسلمان کړې
تور کمر د تور کفر به طُور غوندې رڼا کړې
شنه لمبه شه وچ که وي راشین به مسلمان کړې
ښه له درده وژاړه چې اوښکې دې الماس شي
تاو تر سپینو غاړو لونګین به مسلمان کړې
ګورې به کاروان د مریدانو به دې مل شي
ډیر له شعر منکر، ملحد، بې دین به مسلمان کړې

## سوال

ستا په لاس کې ټولې لارې
له ما ورکې ټولې لارې
د دنیا له سترګو پټه
یوه لاره ما ته راکړه
چې د رڼا په شان درزیږي
چې د زړه تل نه کوزیږي

سهاره وېښ يم بيده نه يم که رابولې مرغۍ
هغه د خداى په غزل مستې سند ربولې مرغۍ
کاشکې چې ستاسو په انګړ کې يوه شنه ونه شم
لاندې ترې ټال وي ستا ، په سر کې يې راټولې مرغۍ
د زړه پر کښت باندې يرغل راوړي فطرت د نغمو
دا يې فطرت دى چې غنم خوري او يا شولې مرغۍ
په پنجرو کې چې نغمې د آزادۍ غږوي
ستا د شاعر زړګي کاروانه دي همځولې مرغۍ

د غرونو خلک یو کاروانه د بازار نه کوو
شډل بډل ګرځو هیڅ ډول او سنګار نه کوو
د خدای مارغان راځي نغمې د ملکوت غږوي
مطرب ته اړ نه یو او ذکر د ستار نه کوو
د سر قاتل ته هم سلام کوو سلام یې اخلو
ولو یې مخامخ له شانه پرې ګوزار نه کوو
په ستن کې تارشو اچولی د سپوږمۍ په رڼا
څراغ کې تېل نه سیزو دا د تاوان کار نه کوو
له پړانګ څرمنه اړوو چې لنګې غوا وې داړي
پر ځانګې ناستې مرغه کۍ د کاڼي وار نه کوو
بې خونده نه یو خوږه په ترخه ښه پوهیږو
خورو یې پرهېز له خوږو شاتو د کوکنار نه کوو
پر پراته پړي هم ګومان د ژوندي مار نه کوو
په نیمه ورځ ترینه راګرځو نه چې ورک شو پکې
پکې آشنا مو نه شته ځکه شپه په ښار نه کوو
دنګې ښکلا سره د مینې مزې بیا غځوو
ګرانه کاروانه بس خبرې په چنار نه کوو

کله لړې میکدې ته، کله برې میکدې ته
هغه رند یمه چې درومم، هرې هرې میکدې ته
هغه جام زما مراد دی، چې جانان یې را په یاد دی
د ثواب لپاره راغلم، ستا کافرې میکدې ته
شپه شوه شنو لمبو اغوستی، د شیشو نازک لباس دی
شیخه پام کوه رانه وړې، یا ډبرې میکدې ته
تیروتم د یار پر سترګو، کله باز کله شاهین شم
ماوې راغلې له جومات نه، برګک وزرې میکدې ته
له باران دې غېږه ډکه، ساقي راشه چې ګل ګل شي
دغو ټیوډ یرې راغلې، یا لښکرې میکدې ته
د کاروان زړه دې مات مات کا، چې مینا ته غمې جوړ شي
خامخا که چیرته راغلې، څوک زړګرې میکدې ته

رياضت مې لاهم هغسې روان دی
هغه ښکلی په خدای اوس هم راته ګران دی
غم دې غل دی پسې غلی غلی راغی
پروت په زړه کې مې غمی ستا د پېزوان دی
ته راشنه شې په سره شال په شنه لباس کې
سپین طاووس په سر کې ناست د ارغوان دی
یوه شپه په بدرګه د ستورو راشه
مادې نو د ورځې زر ځله ګردان دی
څلو قله مې پر ځان چُف دې راکوره
ختم کړی مې په تا پسې قران دی
ستا کا روان دې خدای د ګل عبرې ته یوسې
لکه پرخه له اغزونه اویزان دی

ستا د تورو سترګو څنګ ته رالویدلی
غرنی نظر مې جنګ ته رالویدلی
لپې لپې د لفظونو مې ترې ډکې
د شپیلۍ غږو کړنګ ته رالویدلی
دتندي خال مې په ژبه ترې نه واخیست
بختور مې د زړه زنګ ته رالویدلی
سره لمبه، سپینې جامې، ما به اوبه کړې
لمر، د واورو ډک سالنګ ته رالویدلی
ما په خوب لیده چې پروت یې و په پښو کې
د پاچا سرو ملنګ ته رالویدلی
له کاروان غریب نه سُر د غزل ورک دی
ستا د شنوبنګړیو شرنګ ته رالویدلی

د شپې چوپيا د ديوالي ګړۍ ټک ټک ماتوي
او که زړګړ غمی د عمر، په څټک ماتوي
ستا پر تنکيو پښو مين دی ته خبر هم نه يې
چې په تڼاکو لاسو کاڼي د سړک ماتوي
ښايي د ښکليو تور باڼه دي له الماسو راشنه
سپينې هنداري چې د زړونو په سترګک ماتوي
داسې سېلۍ له ستوني ونيسئ چې ګام وانخلي
څلور ګلونه چې په هر يوه څپک ماتوي
مسته غزاله د غزل، د بيابان کاروانه
کړه راپيدا چې د نقاد زمری د شک ماتوي

## دعا

زه چې سره ګلاب ته ګورم
د زړه تنده مې شي ماته
بې اختياره دعا وکړم
کله ګل ته کله تا ته:
خدای دې ډېر لري ګلونه
خدای دې نه کړي چې راشنه شي
ستا په سترګو کې ګلونه

## غم

غم دې زما په اوښکو څکه وکړه

پر دې ایمان لرمه

نمک حرامه نه دی

کله یې هم چې لاس ور ورسیږي

ستا د خندا ګلاب ته

له ما یې نه دریغوي رابه یې وړي

رانه خبره اخوا دې خوا شي لږ
ګرانه چې تیرې خاطرې دې ګورم
زه چې مارغان اورم چې ونې وینم
ترپانېو ډیرې خاطرې دې ګورم
هېر به مې ډېر وي دومره ډېر هم نه دي
رایادې، هېرې خاطرې دې ګورم

چې ستا له غېږې يې ګلونه راوړل
مينه د هغې څانګې اور وه کنه؟
هسې په خپلو کې خبره کوو
سپينه خولګۍ مې باندې پور وه کنه؟
ته په ايمان، د شپونکي ورور شپيلۍ يې
د اسرافيل د شپيلۍ خور وه کنه؟

رانه وي شمع لګېدلی پاتې
په شومه دم کې شم له خوبه راويښ
د خوشالۍ اوښکې مې سترګو کې وي
په ښکلي غم کې شم له خوبه راويښ
غزل غزل شمه نغمه نغمه شم
ويده قلم کې شم له خوبه راويښ

کله چې وخاندي رښتيا وايمه
غونډۍ غونډۍ شي ارغوان ګلونه
روښان تندی لري د لمر د ذاته
شنې زرغونې کاندي باران ګلونه
شرنګ د پايزيب يې وي قدم په قدم
ورپسې وروستو وې روان ګلونه

په ويښه وينم لکه خوب ښاپيرۍ
پر ما يې زيری دغزل کړی دی
د چا آواز لکه د شاتو خوږو
خدايږو په ما خو يې څه چل کړی دی
وې: ته خبرې کوه چوپ يې ولې؟
کاروانه چيرې دې مزل کړی دی؟

له مانه ښکليو تښتولی زړګی
څه چې راپاتې و سندرو وخوړ
يو څه شينرنګ شو تاته ليک پرې ليکم
څه هم د اوښکو مرغلرو وخوړ
د سر ښيښه کې چې شو ګل د فکر
وينو ته ترږو په ډبرو وخوړ

داسې خو مه وایه چې هیر دې ډیر دي

ګرانه پادشاه مې ته یې پیر مې ته یې

په ویښه هم زما په سترګو کې یې

د سهار خوب مې یې تعبیر مې ته یې

د زړه ستر نقاش تصویر مې ته یې

## غزل

شد لري مد لري، که نه يې لري؟
ظلم سرحد لري، که نه يې لري؟

زه که هيڅ هم نه يم، يو څه خو به يم
صفر عدد لري، که نه يې لري؟

مينه په څه ده، له انسانه سيوا؟
ښه لري بد لري، که نه يې لري؟

د پښتنو سترګو هندي جادو دې
ووايه در لري، که نه يې لري؟

درده پر ټول وجود مې مه خورېږه
هر شی خپل حد لري، که نه يې لري؟

ساه د جلال ضرورت ستا دعا ته
اشد اشد لري، که نه يې لري؟

جلال امرخېل

## غزل

رحم په ما کوه په زړه مې هيڅ باور نه لرم
کاته په غلا کوه په زړه مې هيڅ باور نه لرم

که شيش محل ورانول غواړې زلزله راوله
بس خو خندا کوه په زړه مې هيڅ باور نه لرم

قربان، قربان مه کوه ځار دې شم، بې زړه به شمه
بلا، بلا کوه په زړه مې هيڅ باور نه لرم

د غنمرنګو چم ته ځم چې رانه پرې نه وځي
راته دعا کوه په زړه مې هيڅ باور نه لرم

له خوشحالۍ نه به پړک وچوي چې اقرار ونه کړې
سبا بېګا کوه په زړه مې هيڅ باور نه لرم

جلال امرخېل

## غزل

خدایزده که دې سترګو ته رانجه شمه

هسې به په زړه اوبه، اوبه شمه

ته او خدای چې خدای دې مړ کړه نه وایې؟

ګله چې بې وخته در په زړه شمه

ستا دهجر سرې تبې نیولی یم

ته راته دعا کوه چې ښه شمه

لاس دې د دعا شي مسیحا ګلې!

هر وخت چې په حال د پریواته شمه

ته راته خوږې خوږې ګیلې کوه

زه به دې ویده په زنګانه شمه

زه به زمانه ځان ته راماته کړم

رنګ به د حالاتو په رنګ نه شمه

ستا له تورو سترګو بهر نه وځم

شپه ده، نه چې ورک له خپل کاله شمه

جلال امرخېل

## غزل

دجفا خبرې مه کوه جانانه

ناروا خبرې مه کوه جانانه

پام دې نيسه لږ دزړونو ماتيدو ته

بې پروا خبرې مه کوه جانانه

مخامخ وايه چې هرڅه دې په زړه وي

پس شا خبرې مه کوه جانانه

اوس نو ما ته ګوته مه نيسه، چې راغله

اوس نو دا خبرې مه کوه جانانه

ای دکوم يو، کوم يو لفظ بلا دې واخلم

وارخطا خبرې مه کوه جانانه

دښمنۍ ته دې که زړه نه وي جلاله

نو رښتيا خبرې مه کوه جانانه

جلال امرخېل

## غزل

ځان مې بيمار کړ خو بيمار نه ومه
وهلی ستا د زړه ازار نه ومه

ستا ګلغوټۍ شونډې مې ګل نه کړلې
شمال به وم خو دسپهار نه ومه

څومره چې تا په غيږ کې ګلک ونيوم
دومره خو ګراني ناقرار نه ومه

هره ورځ، ځان په دې تيرباسمه چې
پرون دنن غوندې هوښيار نه ومه

ته تر سپهاره رامعلومه نه شوې
زه تر سپهاره انتظار نه ومه

ما که د چا د غزل راج منلی
اوس به له تنه دومره خوار نه ومه

جلال امرخېل

## زګيروي

دزړه له درده مې کول يو څوغمګين زګيروې

چې مې ناساپه را په ياد شول د يتيم زګيروې

د دار کړي مې چې په سر کې کله پريوتله

ويلې چې غم مه کړه منصور کړل د يقين زګيروې

وه پښتنه چې خوله يې راکړه نو بيا تکه سره شوه

په غوږ مې ورو ورو اوريده حسين زګيروې

شکر کامياب شو ازادي مو لاس ته راوسته

پرون يو چا وه اوريدلې دغليم زګيروې

فرهاد

## خبرې

لا دې ورې خو پيغلې نه دې ستا ورې خبرې
د ميني ساز او سرود ډکې ستا وربسې خبرې

چې د زړګي له تله وکړم يکه زار زه ورته
ته کړه قربان او را ډالۍ کړه څو ټيپې خبرې

خو کله کله زه نشه ستا په خبرو کوم
زما په زړه ډيرې ښې لږيې دا نغمې خبرې

چې ورخطا او ساه نيولې کړي د ميني اظهار
په لويه لارکې عجيبه دي د کوڅې خبرې

فرهاد حماس

## غزل

د تخيُل له اوږو دنګه جينۍ
هغه خو ډېره ده خوش رنګه جينۍ

خدای خبر څه ورپېښه شوې ده نن
وارخطا ګرځي دا بې ننګه جينۍ

د زړه خبره تل په زړه کې ساتې
زما خوښېږې دا ملنګه جينۍ

چې په خپل حُسن نې مغروره ګرځي
له ښکلې ښه ده دا بدرنګه جينۍ

فرهاده دومره به قسمت چېرته وې
چې تل دې ناسته وې تر څنګه جينۍ

فرهاد

## دعا

یاره په شونډو دې ښېرې خوند نه کړې ته کړه دعا

چې په زړګې دې نه ورېږم نو بیا مه کړه دعا

ځېنې وخت ډېرو دعاګانو نه ښېرې جوړې شې

هسې نه ما پسې ښېرې شې ډېرې مه کړه دعا

نور زه په ژوند کې ناکامېو سره مخ نشومه

له هغه وخته چې مې مور راپسې وکړه دعا

## شعر

زه خو شاعر یمه په شعر ژوندې یم

شعر مې د خپل د روح سکون بولم

نور مضمونونه ټول اپلتې ښکارې

شعر مې په ژوند کې لوې بدلون بولم

فرهاد

دغه خبرې به دروغ کړم ټولې

نور هر يو ښکلې ته به زړه ورکوم

په شاعرۍ کې به يي صفت ورته کړم

چا ته غزل چا ته ټپه ورکوم

## کله

کله باران شي

کله ستا یادونه

کله په فکر کې غزل راشي

کله د ستا کله زما خبرې

کله اُلفت او کله ....

چې کله نه يم

دا ټپه ګرانې په غور واوره

کله به يم کله به نه يم

چې کله نه يم بل ته مه ورځه مېنه

ته زما لپاره څوک يې؟

څنګه درته وايم

چې ته څوک يې

ته د زړه اواز يې

ته د ژوند يو راز يې

ته ژوندون يې، ته لټون يې، ته بېلتون يې

ته زندګې، ته بنده ګې

ته هر خوښې

ته مينه، محبت او سکون يې

په سترګو کې ته، په زړه کې ته، په جومات کې ته، په مېکده کې ته

د ژوند او مرګ په فاصله کې ته

ته په شپه، ته په سهار کې

ته په خوب، او ته په خيال کې

ته خندا، ته ژړا، ته ........

دا ته يې چې زه يم، بې له تا هېڅ نه يم

څنګه درته وايم؟

ته زما لپاره څوک يې؟

فرهاد

## غزل

که پیدا نه وی خوبان دا هسې شوخ
چا به څه کوو ارمان دا هسې شوخ

شوخ يې مخ شوخ يې لبان په خندا دواړه
لمر به نه وي په آسمان دا هسې شوخ

هر یو ګل چې یې د مخ له باغه ګورم
نشته ګل د ګلستان دا هسې شوخ

نه صدف نه مرغلرې په دریاب کې
لکه بریښ کا ستا دندان دا هسې شوخ

دهجران په تیغ یې غوش کړې طلب شاهه
دي د دهر طبیبان دا هسې شوخ

طلب شاه

## غزل

هرچې ښکلو فرمائيلي دي پوهېږم
ما په دا سترګو منلي دي پوهېږم

د اشنا د بيلتانه په درد و غم کې
عقل و هوش راځنې تللي دي پوهيږم

له ازله د هجران په لمبو باندې
عاشقان په زړه داغلي دي پوهېږم

روغ به نشي د مژګانو له خدنګه
تا د زړه په سر ويشتلي دي پوهېږم

طلب ګار ازاره وي د مهرويانو
رقيبان ځکه راغلي دي پوهېږم

طلب شاه

## غزل

چې په دنیا کې لېونۍ نشه ده
د ګلبدنو د یارۍ نشه ده

د بې خوبۍ له زوره وګرځېږم
ما وې چې څه ګڼې جینۍ نشه ده

نه، شرابو نوم به نه بدوئ
په ما ختلې د خولګۍ نشه ده

عملي ګله پرېښودی شي عمل
شعر خو زما د زندګۍ نشه ده

په تا پيريان د پيغلتوب راغلي
په ما راغلي دځوانۍ نشه ده

جلاله! خير دې شه درزا ته د زړه
کوي خبرې په خوارۍ نشه ده

جلال امرخېل

# غزل

مه راوړه ماته زولنې ګوره بدنامه به شې
د وخت منصور یم زمانې ګوره بدنامه به شې

ګلونه مه رالیږه ګلی ټول شکمن دی ګرانیې
زما او ستا په یارانې ګوره بدنامه به شې

د پښتو چم دی دوی د پیغلو اوښکې کفر ګڼې
زړه دې قابو کړه پښتنې ګوره بدنامه به شې

مور ته دې مه وایه چې ما درته بنګړي مات کړي
ورته کړه جوړې بهانې ګوره بدنامه به شې

زه او دا مخامخ انسان یو ځای کیدل غواړو نور
له منځه اوځه ائینې ګوره بدنامه به شې

جلال امرخیل

## غزل

دا بیا کومې خبرې سپینوې په دېواله
کم عقلې خلک نه کوي جرګې په دېواله

باران دې کړي خورې زلفې لمدې په دېواله
څه خیر دی نورې مه کوه ګیلې په دېواله

رایاد شي ستاسې کډه په زیړې مازیګر تلله
رایاد شي غلې غلې ژړېدې په دېواله

زړه ګرم نه دی چې اوس ورپسې ګرځي لیونی
مدام به یې زما خبرې کړې په دېواله

لړ پام کوه جینۍ، ګوره پنځ ډزی به دې وخوري
لړ پام کړه ډېرې مه کړه اشارې په دېواله

پوه نه شوم لیونی شوم د ځوانۍ په جوش کې راغلم
خبره رانه ورانه شوه د شپې په دېواله

جلال امرخېل

## غزل

غاړه غړۍ ګل سره وربمه ده لکه زه او ته
روح مې د وجود د تن جامه ده لکه زه او ته

ګوره د فطرت منظر ګډوډ نه کړې لاس را نه کړې
ځمکه د اسمان پېښو کې پرته ده لکه زه او ته

ښې دي زما اوښکې که نه تا به کړي لمبه، غوسه
پرخه دګلاب پر پاڼو ښه ده لکه زه او ته

هسې خو لمر ګلی خدای وهلی لمرته مخ نه وړي
منځ کې يې ضرور کومه رشته ده لکه زه او ته

دا تصوير او دا د ائينې مخ ته ولاړ انسان
يو د بل ناپايه ترجمه ده لکه زه او ته

ځار دې له ناندرو نه زه به چوپ يم ته لګيا اوسه
سيند سره څپه هسې جوړه ده لکه زه او ته

جلال امرخېل

## غزل

ژوبورې، جنګيرکې، جنګېرکې!

زړه مې څه له خورې؟ شيشکې، جنګېرکې!

بس کړه، بس کړه، له ناندرو نه دې لوګی شم

رقيبان وهي چکچکې، جنګېرکې!

ژاړه مه، راشه، خوړلې خو مې نه يې

درواپس به کړم مچکې، جنګېرکې!

د سرو شونډو د کنځا بلا دې واخلم

ګل شي وسپړي غونچکې، جنګېرکې!

زړه هلمند، ارمان طالب او دا ستا سترګې

بې پيلوټه الوتکې، جنګېرکې!

ته او ستا نو د حمزه بابا غزل دی؟

چې په ماکوې نيوکې جنګېرکې!

جلال امرخېل

## غزل

د زړګي درد مې خير دی زيات اوسه
خو، ګوره ياد دې دا لمحات اوسه

د غره لمن وي په کرکڼو ښايسته
د چا بانړه مې په زړه مات اوسه

ما ديقين په پړي و نه ترې
تلوسه ښه ده، امکانات اوسه

سترګې دې مړې شي، ګل شي، تل دې داسي
هېرې وعدې د ملاقات اوسه

ستا کليسا اوسه چينه د ښيښو
زما په امن کې جومات اوسه

ميني! ژوندی دې کړم، ژوندۍ خو دې وې
ورځ دې اختر، شپه دې برات اوسه

جلال امرخېل

# غزل

د ژوندون د موسیقۍ سوز او سرور دی
محبت زما د دواړو سترګو نور دی

ګونګ ارمان دتورو سترګو تورات غواړي
که موسی ولاړ پر ژۍ د کوه طور دی

که جانان مې دګلاب په شانتې نه دی
خوګلاب مې دجانان په شان ضرور دی

د دیدن د خمار سور اور په کې بل دی
زما زړه نه دی، د سرو لمبو تنور دی

ښکلي زړه، عقل او هوش هسې تالا کړل
ته به وایې په کابل ګډ شوی چور دی

دا شیندلي دي پرې چا د زړګي وینې؟
دا چې رنګ دې د نکریزو دومره سور دی

لا مې ګنج د غزلزار نه دی موندلی
تخیل مې لا نیمګړی دی رنځور دی

جلال امرخېل

## غزل

د حالاتو پېچ او خم سړی خراب کړي
کله کله د چا غم سړی خراب کړي

جنتونه یې له سره صدقه کړي
غنمرنګ کله ادم سړی خراب کړي

محبت د یوې داسې بلا نوم دی
هم ژوندی کړي مړی هم سړی خراب کړي

مخه ښه د ډکو سترګو کړي وریاده
د سهار پرګل شبنم سړی خراب کړي

جینکۍ لکه د شنو بنګو پیالې دي
درونده، پښتون او محترم سړی خراب کړي

د باران په شپه تش یاد د تودې غېږې
لیونی کړي سړی، سم سړی خراب کړي

جلال امرخېل

# غزل

لکه په پاڼوکې غوټچه، لېوني
مخ پټوي په لوپټه، لېوني

کله ناکله په لار پرېوځمه
کله ناکله شي نشه لېوني

انکار نو څه له کوې وه کافرې
ازار مې ولې اخلې وه لېوني

دا یارانه به ښنګه سر ونیسي
یو زه ضدي بله هغه لېوني

لا خو مې ځېل د زلمیتوب نه کاوه
اوس به یې سمه کړم پخه لېوني

لکه دسیند مې خوا کې چوپ تېره شوې
په زړه مې راغلله ځپه لېوني

پر ما خورې زلفې دې ټولې مه شه
سبا خو مه شه دغه شپه لېوني

جلال امرخېل

## غزل

بنده، بنده شاعري، بې پيونده شاعري
ځنې خلک چلوي، کله ژرنده شاعري

خدای وهلی دی چې چا، کړ خپل ژوند شاعرانه
بريالی دی چې کوي، څوک له ژونده شاعري

د رنګونو پريماني، او د ژبې مصنوعيت
ترکيبونه بې معنا، کړي بې خونده شاعري

دا ټوپک، دا تمانچې، دا بمونه دا برچې
تو ژغورل غواړي اشنا، له دې ګنده شاعري

توري ستر ګې معما، شل رازونه شي افشا
سپينه خوله ده د جينۍ، ښه څرګنده شاعري

ما ليدلی ديو چا، د بنګړو په شور کې ژوند
ما زده کړې د يو چا، له مړونده شاعري

جلال امرخېل

## غزل

د تنهایۍ غمونه هېر دي، اوس مې ساعت تېر دی
ښار کې دکلي خلک ډېر دي، اوس مې ساعت تېر دی

د زړه داغونه مې کوشېر دي، اوس مې ساعت تېر دی
غشي دظلم پرې اندېر دي، اوس مې ساعت تېر دی

دوی هم اوس مینې په ملا مات کړل، او یوازې نه یم
اوس مې یاران زما په خېر دي، اوس مې ساعت تېر دی

خولې د پرهر د خامو پېغلو تکې سرې واوښتې
بانه مې زړه کې تېر و بېر دي، اوس مې ساعت تېر دی

شکر دی اوس له خپل ضمیر سره په جنګ نه یمه
اوس رانه هېر دي څه چې تېر دي، اوس مې ساعت تېر دی

اوس مې رنګونه دغزل په ټول وطن کې خواره
کله ګلونه د بونېر دي، اوس مې ساعت تېر دی

جلال امرخېل

## غزل

شپه ده، ستا یادونه دي ګلونه دي
چا وې چې غمونه دي؟ ګلونه دي

ستا له زلفو پریوتل، بې ابه شول
مړاوي زمونږ زړونه، دي ګلونه دي

روخ د پسرلیو دی زما په واک
لاس کې مې لاسونه دي، ګلونه دي

رنګ دپیغلتوب دې شو پر شونډو خور
غېږ په غېږ اورونه دي، ګلونه دي

ستا د خولې خبرې دي، سندرې دي
ستا دخولې لفظونه دي، ګلونه دي

دار نه دی، سور شاخ د ګلغوټیو دی
ځوړند پرې سرونه دي، ګلونه دي

منځ کې یې توپیر جلاله مه کوه
ښکلي بس ګلونه دي، ګلونه دي

جلال امرخېل

## غزل

ته چې زړه په مېنتوب خلاص کړې له غمه
عشق د درد په سپېڅلتوب خلاص کړې له غمه

زر پوښتنې، بې جوابه راجواب کړې
ځان د سترګو په پړسوب خلاص کړې له غمه

اه مجنونه! جوړ پیریان دې زورور ول
چې صحرا او لېونتوب خلاص کړې له غمه

د ژوند پېټی تر زړښته وړلی نه شم
خدایه ما په زلمیتوب خلاص کړې له غمه

دا، ته جوړ له کومې ختې یې جلاله!
چې نه بنګو او نه خوب خلاص کړې له غمه

جلال امرخېل

## غزل

اور ته رڼا راباندې څه له وايې؟
دا ناروا راباندې څه له وايې؟

اول به ستا پر تندي ګونځې راشي
رښتيا رښتيا راباندې څه له وايې؟

يو ځل مې ووې، چې زه ګرم يم کنه
ته يې نو بيا راباندې څه له وايې؟

ځنې خبرې د زړه رنځ ډېره وي
راز د ژړا راباندې څه له وايې؟

پر زړه پرهر د زړه مالک جوړوي
زړګيه دا راباندې څه له وايې؟

د جينکو پټې کيسې جلاله!
اوس برالا راباندې څه له وايې؟

جلال امرخېل

# غزل

هغه جوړې راځي له لمرخاته په لمرخاته
یو لمر سره بل هم راوخاته په لمرخاته

نور پاتې د سپوږمۍ او څراغونو څه مجال؟
راجیګه چې له خوبه شولې ته په لمرخاته

بېګا خو ټوله شپه لکه زمرۍ وې ښه ډاډه
دا رنګ دې نو بیا ولې والوته په لمرخاته

یو، وژني سرې ګرانې! مزدورۍ ته پاڅېدل
بل ستا داسې خوارۀ کاته په لمرخاته

د خدای لپاره نه تلمه مکتب ته شین سهار
خطونه به په لاره و پراته په لمرخاته

بېګا یې د ښار ټولې میکدې کړې لیونۍ
جلال د سر له درده پرېواته په لمرخاته

جلال امرخېل

## غزل

نه به ګیله د چا له خال، نه له جبینه کوې
بس ګوذاره به دې د خپل زړګي په وینه کوې

ته چې په ما داسې کانې کله بې دینه کوې
جواب د خدای به وایه څنګه لونګینه! کوې

دمازیګر ازار وهلیه په ماښام چې راځې
په ما نو څه له انتظار له ماسپښینه کوې

زما د زړه په درد چې دومره مهربان یې خدایه
ما اوریدلي چې ته هم چا سره مینه کوې

چې له انکار سره ژړا کوې، بلا خو کوې
ترخه کیسه به وي خو ته به یې شیرینه کوې

یره جلاله! غټې سرې شوې، سرې نه شولې
لکه ماشوم هره خبره سپینه سپینه کوې

جلال امرخېل

## ښاریه د سوداګرو لاس ته غورځي

ژوند، له ژوند نه د منکرو لاس ته غورځي
ارزښتونه د کافرو لاس ته غورځي

زولنې د مخورو لاس ته غورځي
فیصلې دجوارګرو لاس ته غورځي

د کابل په حورو بیا تبه خوره ده
بیا ناهید د لنډغرو لاس ته غورځي

د خپل سر بیه ټاکل به غنیمت وي
ښاریه د سوداګرو لاس ته غورځي

دا یاران مې د دربار پېښو ته ټیټ شول؟
که دربار مې د ملګرو لاس ته غورځي؟

ګوره وخت هم ستا ملګری دی جانانه
زر اکثر د زورورو لاس ته غورځي

جلال امرخېل

## غزل

لکه ډیوه راځي، چې توره شپه شي
خیال ته هغه راځي، چې توره شپه شي

سترګې مې تور خوري سترګې مه پټوه
په ما خوله راځي، چې توره شپه شي

غم اوستا یاد لکه همزولې خویندې
جوړه جوړه راځي، چې توره شپه شي

لکه اروا مې پر وجود شي خوره
لکه وربمه راځي چې توره شپه شي

د هغې یاد مې د زړګي د پرهر
په تماشه راځي چې توره شپه شي

سړی چې ړوند شي عشق یې هله لوټي
غل خو هله راځي چې توره شپه شي

جلال مابنام له کوره سم ووځي
نشه، نشه راځي چې توره شپه شي

جلال امرخېل

# غزل

ګله! په سرو شونډو ښکلوه پرخه
خدای دې چې وجود ته کړه پرده پرخه

پرېوتله ستا پر لوپټه پرخه
ما نه ده نېکمرغه یو پر دوه پرخه

ته د ژوند د سره ګلاب د مخ لمبه
زه د ګل پر پاڼو یم پرته پرخه

پرېږده چې نن ښه ډېر درته وژاړم
پرېږده چې ورېږي ټوله شپه پرخه

اوښکو دې باڼه په زهرو ولړل
زنګ کوي چې توره کړي لمده پرخه

رنګ د محبت پر فضا خور نه شو
درد مې جوړې نه کړه بدرګه پرخه

هسې شو رایاد د چا هېر شوی نوم
نن چې ملا بانګ راورېده ترخه

جلال امرخېل

## غزل

د محبت دارومدار د سرې ملا ماتوي

زړګیه! دغه کاروبار دسرې ملا ماتوي

څه بې دوخې د زمانې، څه د هغې بې روخې

په ګل روخۍ کې د بهار د سرې ملا ماتوي

د قهرجنو سترګو نه، سرې ته ژوند ورکوي

خو په مسکا کې بیا انکار د سرې ملا ماتوي

نه، د مور نه، خو د مئېن او دمعلم د زړګي

او دشاعر د زړه ازار د سرې ملا ماتوي

دا ته چې تل هرې وعدې پسې وعده ماتوې

جانانه ګوره دغه کار د سرې ملا ماتوي

سترګې دې مرې مه نیسه، راکړه یو پریکړې ځواب

ساقي! نیمچه نیمچه خمار د سرې ملا ماتوي

جلال امرخېل

# غزل

لکه اروا، لکه وږمه شوې دګل
چې پر وجود خوره وره شوې دګل

ته چې وږه وې، دومره ښکلې نه وې
او چې رالویه شوې، غوټچه شوې دګل

بیا مې له سترګو، سترګې نه اړوې
ته جوړې بیا په تماشه شوې دګل

نیکمرغه خاله! د هغې پر جبین
شکر اوباسه چې حصه شوې دګل

زړه! مینې مات کړې، پاڼه پاڼه یې کړې
لکه اوربل دانه وانه شوې دګل
جلاله اوس دې نو ایمان ته خیر شه
اوس چې پر شونډو اموخته شوې دګل

جلال امرخېل

## غزل

خلک وا په اوښکو يې باڼه خيشته
دا خو مې په سرو وينو د زړه خيشته

اخ بلا رازونه به خولې وسپړي
اخ په شنه سحر دې کړل وېښته خيشته

څه! چې په ژړا کړو د زړه زور اوبه
پرېږده چې باران مو کړي لامده خيشته

دنګې! د اسمان او سمندر په شان
يو د بل په اوښکو يو خيشته، خيشته

ژاړم، چې خپل زړه ته دې راښويه کړم
نرم شي، چې کاڼي شي د غره خيشته

لاس د رقيب ستا د تورپيکي زوال
زر مه شه د مسو په اوبه خيشته

جلال امرخېل

## غزل

هر یو پرهر مې غوړېدۀ یو چا دې نوم اخیسته
زړګی مې ورو،ورو درزېدۀ یو چا دې نوم اخیسته

سترګې مې پټې کړې د اوښکو د راتلو له یرې
ځان مې له قصده کړ وېدۀ یو چا دې نوم اخیسته

زه ترې راتلم خو میرات مړی سر خوړلی سر مې
په لویه لاره ځنګېدۀ یو چا دې نوم اخیسته

یو څوک دې بل هم و زما په شان په زړه راغلی
یو څوک محفل کې غږېدۀ یو چا دې نوم اخیسته

په سپینه ږیره میکده کې سلګو واخیستمه
خپل زلمیتوب رایادېدۀ یو چا دې نوم اخیسته

ستا امرخېل په خود کې نه وو خدایزده څه یې ووېل
کمبخت په ځان نه پوهېدۀ یو چا دې نوم اخیسته

جلال امرخېل

# غزل

تا په نکریزو پر ورغوي زما، نوم لیکلی
ما د خپل جسم په رګ رګ کې دا ستا نوم لیکلی

مونږه مجبوره، مونږ ته بله لاره نه وه پاتې
مونږ سر ښندني ته په خپله رضا، نوم لیکلی

په ښاریه کې یوه نوې اندېښنه خوره ده
چا د قاتل پر دروازه د پاچا، نوم لیکی

پر هره لاره چې پل واخلمه، واپس راشمه
پر هره لاره د بېلتون د بلا، نوم لیکی

جلاله! ته رښتیا ساده یې؟اوکه ځان ځوروې؟
لا، چې پر زړه دې د هغې بې وفا، نوم لیکی

جلال امرخېل

## غزل

ستا که زما ده، ته له خپل زړه نه پوښتنه وکړه
خطا د چا ده؟ ته له خپل زړه نه پوښتنه وکړه

زه اماده یم، خو چې ته سبا منکره نه شې
زما رضا ده، ته له خپل زړه نه پوښتنه وکړه

دا ته چې ځې او ما د زړه په رنځ اخته پرېږدې
دا نو روا ده؟ ته له خپل زړه نه پوښتنه وکړه

په یارانه کې څوک د هر دله خبرې نه اوري
دا خو دنیا ده، ته له خپل زړه نه پوښتنه وکړه

ما خو منزل د مینې خپل د ژوند هدف ټاکلی
لارکې بلا ده، ته له خپل زړه نه پوښتنه وکړه

د ملا مه منه، ملا غریب په څه خبر دی
مینه ګناه ده؟ ته له خپل زړه نه پوښتنه وکړه

ووایه څه! چې بې له تا به زه ژوندی پاتې شم؟
پریکړه په تا ده، ته له خپل زړه نه پوښتنه وکړه

د رښو اوښکو په ملتیا دا د انکار خبره
ګرانې رښتیا ده؟ ته له خپل زړه نه پوښتنه وکړه

جلال امرخېل

## غزل

هغه دې ستړکې ځلېدې په ماښام
ما وې که بلې دې ډیوې په ماښام

کړې دې په غاړه سرې جامې په ماښام
که دې ورپورې کړې لمبې په ماښام

ټوله اونۍ وي مروره رانه
بس راپخلا شي د جمعې په ماښام

زلفې خورې کړه زلفې وغوړوه
نورې هم جوړې کړه تیارې په ماښام

ښه شوه قابو مې کړل د زړه اسوېلي
اور لګېدلی و نړدې په ماښام

په ما راتلله سره لرې تبه
ته چې په بام ولاړه وې په ماښام

ځه، دا ماښام به دې هم راشي که نه
ډېرې دې کړې دي وعدې په ماښام

ګوره ایساره شه شر مه جوړوه
ګوره رسوا به شو چې ځې په ماښام

بد به مې هم وړې امرخېله اشنا
په دېواله چې راختې په ماښام

جلال امرخېل

# غزل

زلفې دې خورې، ګرځه چې ويده شمه
شابه ګنه! شپې، ګرځه چې ويده شمه

زه لکه ماشوم يمه يرېږمه
زړه ته مې نږدې، ګرځه چې ويده شمه

خوب راغلی ګرانې! سترګې پټې کړه
دواړه ډيوې مړې، ګرځه چې ويده شمه

څه ګنه، تصوير نه دې راووځه
ختمې فاصلې، ګرځه چې ويده شمه

زړه! نور د دنيا غمونه مه کوه
ټول بلا پسې، ګرځه چې ويده شمه

جلال امرخېل

# غزل

د تقدير له فيصلې نه وتی نه شم
لکه مړ له هديرې نه وتی نه شم

ستا د زلفو په تورتم کې مې ژوندون دی
زه له دې بنديخانې نه وتی نه شم
دا د کوم قاتل نظام دی په دې ښار کې
چې له خپلې دروازې نه وتی نه شم
که ښکاره، شم زمانه به مې په دار کړي
راز دعشق يم له سينې نه وتی نه شم
هر ابهام شم حلولی خو ارمان چې
د وجود له داېرې نه وتی نه شم
توره شپه ده، شړک باران او زه زنګېږم
ساقي نن دې ميکدې نه وتی نه شم

بدل شوی نه يم اوس هم امرخېل يم
اوس هم ستا له ارادې نه وتی نه شم

جلال امرخېل

## غزل

ته راته ووایه په څه چې سلامته یمه
کفر خو نه دي تشه خوله چې سلامته یمه

ته داسې سره شوې لکه ته چې هیڅ ګناه نه لرې
زه داسې چوپ شوم لکه زه، چې سلامته یمه

بس ګرانې خیر دی نور په دې خبره تیره کېږده
درته مې وویل کنه، چې سلامته یمه

اوس د محفل د رمز ساتل زړګیه ستا په غاړه
ما ښکته کړي دي باڼه، چې سلامته یمه

د ژوند په دښته کې مې لاس د خپل وجود پرېښوده
بیا مې تر ډېره اورېده، چې سلامته یمه

بیګا جلال په میکده کې په ځان نه پوهېده
په چغو چغو ژړېده، چې سلامته یمه

جلال امرخېل

غزل

زمانه، په بهانه د رنګ او نور
غوارې ووژنې ډېوه د رنګ او نور

ته يې مخې ته رانجه پورې کوې
شوه قرضداره ائينه د رنګ او نور

ستا د سترګو د خمار په راز خبر
زه پوهېږم په رشته د رنګ او نور

رانه ستورې، مانښاميز بانه ترې تاو
ګواهې ورکوي شپه د رنګ او نور

په ځنګل مې اور، په سيند ګډه وبا
په اوربه مې جنازه د رنګ او نور

زمانه پس يې قبول کړم په ياری
جوړ محتاجه شوه هغه د رنګ او نور

لوټ باران کميس دې ډك له ستا رو
مبارك دې شه جوړه د رنګ او نور

جلال امرخيل

## غزل

دا چې اروا ته مې نامه نه لرم
په خپل وجود مې عقيده نه لرم

اوس مو بس يو د مرګي ګام تر منځه
اوس درنه ډېره فاصله نه لرم
مهمه دا نه ده چې ځان لرمه
مهمه دا ده چې هغه نه لرم
د سترګو سيند کې دې ډېر نه ډوبېږم
د ځان وژنې اراده نه لرم
د تهمت داغ مې پر تندي ليدی شم
ضمير مې شته که ائېنه نه لرم
زه اوس په يو نفر مئېن نه يمه
زه اوس له هر چا نه کينه نه لرم
دومره به ووايم چې بد مې کړې
جانانه بله بهانه نه لرم

اوس په غزل کې رياضت نه کوم
اوس ورته دومره حوصله نه لرم

جلال امرخېل

# غزل

ستړې ده او ښه، بې خوبه شوې ده

غواړي لږ دمه، بې خوبه شوې ده

خدای ورکړه بانه، بې خوبه شوې ده

لاړه، شوه ویده، بې خوبه شوې ده

ما ورته کلونه شوګیر کړی دی

دا په یوه شپه، بې خوبه شوې ده

سترګې دواړه پټې پټې کېږي پرې

مړه نه شي ډیوه، بې خوبه شوې ده

اوس به یې اواز شي زرکلن شراب

اوس کوي مزه، بې خوبه شوې ده

نورې شپې به ما ترې خوب کوی نه شو

دا وارې هغه، بې خوبه شوې ده

ټوله زمانه دې ده په سترګو کې

ټوله زمانه، بې خوبه شوې ده

نه! جلاله نور ازار یې مه اخله

مه یې ځوروه، بې خوبه شوې ده

جلال امرخېل

## غزل

پړ مخې پروت په میکده کې نه یم
جانانه لا خو په نشه کې نه یم

څه وایې تا به راته نه راکوي؟
ورته پنځه وخته سجده کې نه یم؟

نصیبه ووایه ګناه مې څه ده؟
چې تل په ځه کې یم راځه کې نه یم

نن مې په خپل نظر شکمن غوندې یم
نن دې د سترګو ائینه کې نه یم

له دې نه پس درپسې نه ژاړمه
له دې نه پس دې په کیسه کې نه یم

د اسرافیل یوه شپېلۍ مو تر منځ
درنه په لرې فاصله کې نه یم

زه درنه غواړمه پرېکړې ځواب
زه دې منطق او فلسفه کې نه یم

جلال امرخېل

## غزل

څه لویې خوارۍ ته غاړه وتی یم
بس خو زندګۍ ته غاړه وتی یم

اوس ستا د مړوند خوبونه چرته دي
اوس خو تنهایۍ ته غاړه وتی یم

دا څه په لانجه باندې اووښتی یم
دا څه لیونۍ ته غاړه وتی یم

ستا د قدرت راز مې کشف کړی دی
حسن پرستۍ ته غاړه وتی یم

مینه دې جانانه عبادت ګڼم
ځکه بندګۍ ته غاړه وتی یم

جلال امرخېل

## غزل

ستا د سترګو په اثر، شي رانه هېره
خپله څړيکه د پرهر، شي رانه هېره

کله کله مازيګر شي رانه هېره
نېغه لاره د ګودر شي رانه هېره

دروغجن نه يم، هېرجن يم سودايي يم
چې وعده وکړم اکثر، شي رانه هېره

څه خبره مې په زړه وي، خو ستا مخ ته
يو ناڅاپه شم اوتر، شي رانه هېره

خدای خو مه کړه چې د ژوند په ازمايښت کې
تماشه دې د نظر، شي رانه هېره

زه د عشق له شرکه سل ځله توبه کړم
خو چې راشم ستا په ور، شي رانه هېره

هسې نه د شرنګېدلي شعر له غمه
ملګرتيا د خوږ هنر، شي رانه هېره

جلال امرخېل

## غزل

نه د مشرق په لوري لمر پرېوځي
نه مې تندى دا ستا په در پرېوځي

د کابل جان ګلونو رنګ وبايله
جوړ کوم افت په پېښور پرېوځي

دا خو مې ړنګه کړه مانۍ د غاور
دا چې هر کاڼى مې په سر پرېوځي

ښه ده چې ته خو بې وعدې شوې راته
ښه ده چې ستورى د سحر پرېوځي

ځار دې له سترګو اوښکې مه تويوه
بې قدره خاورو ته ګوهر پرېوځي

نه د حالاتو غلامي کووه
او نه پر ما د چا اثر پرېوځي

ذره ذره مې کړه راټوله صحرا
ذره ذره رانه نظر پرېوځي

جلال امرخېل

## غزل

پاتې شه شپه ده، دې کې سل رنګه خبرې راځي
ګوره خطره ده، دې کې سل رنګه خبرې راځي

داسې به هر وختې په نه خبره سر نه نیسې
دا یارانه ده، دې کې سل رنګه خبرې راځي

شپه ده، باران دی، زه او ته یو او سپرلی د ځوانۍ
لاره اوږده ده ، دې کې سل رنګه خبرې راځي

غم، خوشحالي، درد او خفګان وېش د لیکوال وګڼه
ژوند ډرامه ده، دې کې سل رنګه خبرې راځي

ستا له ژړا نه ځار، خولګۍ به درنه بیا نه غواړم
زما توبه ده، دې کې سل رنګه خبرې راځي

چوپه چوپتیا ده، غاړه را خو پام چې غږ ونه کړې
ډیوه هم مړه ده، دې کې سل رنګه خبرې راځي

جلاله! ته دې له دې خپل عمل نه ولې نه اوړې؟
جلۍ وړه ده، دې کې سل رنګه خبرې راځي

جلال امرخېل

# غزل

دا مې د ژوند ستره فلسفه ده اوس
سينه مې په رګ رګ کې خوره ده اوس

وي دې، بې له دې نه به نيمګړی شم
درد مې د وجود يوه حصه ده اوس

هر مدار د مرګ په نقطه وصل دی
تاوه رانه داسې دايره ده اوس

زه يې خپل تصوير نه پناه کړی يم
منځ کې ائينه لکه پرده ده اوس

ژوند منم شيرين و، چې ماشوم ومه
دا ميوه د زهرو نه ترخه ده اوس

حد د انسانيت مې دی په زړه تمام
هېره يې د خپل قاتل نامه ده اوس

زه اوس لکه څلی د يادونو يم
ما نه وړاندې تللې زمانه ده اوس

جلال امرخېل

## غزل

له خپل وجود نه د وتلو طريقه نه راځي
تا پورې خدايه د درتللو،طريقه نه راځي

سترګې مې واړمه، وشرمېږم وخاندمه
ياره! د دروغو د ويلو طريقه نه راځي

زما پښتو ما ته په سترګو کې ازغي غړوي
ځکه خو ستا د هېرولو طريقه نه راځي

تا خو خورې زلفې درټولې کړې، سنبالې دې کړې
ماته د زړه د صبرولو طريقه نه راځي

يو څه بهانه وکړه، قربان دې شم انکار و نه کړې
د قيامتونو د زغملو طريقه نه راځي

پخوا به ته وې چې لمانځه ته به دې پاڅولم
اوس نو سحر د پاڅېدلو طريقه نه راځي

زړه! زه او ته دواړه همزلي يو، په غم کې پيدا
زړه! ما او تا ته دخندلو طريقه نه راځي

جلال امرخېل

## غزل

په شوخو سترګو کې سلام، کوه چې مړ نه شمه
په ژوند مې دغه یو اکرام، کوه چې مړ نه شمه

نه، نه یوازې به مې نه پرېږدې بلا دې واخلم
نه، نه جانانه ګوره پام، کوه چې مړ نه شمه

شرابي سترګو ته دې ووایه، په شعر ژوندی یم
د شرابي غزل الهام، کوه چې مړ نه شمه

خیر دی نن مه ځه، په نشه کې مې تېښته مه وهه
نن خو له ما سره ناکام، کوه چې مړ نه شمه

د ژوند طوفان دی، ګړنګونه دي، پریوځم پیره!
بس لاس نیوی مې په هر ګام، کوه چې مړه نه شمه

جلال امرخېل

## غزل

خدایه زما په ژوندانه بې رانه هېر نه کړې
د مخه ښې د وخت کاته بې رانه هېر نه کړې

پروردګاره! شرمېده بې رانه هېر نه کړې
د پلو لاندې ژړېده بې رانه هېر نه کړې

منم، د ژوند ازمېښت مې ټوله حافظه اوبه کړه
خو ته دا ومنه چې ته بې رانه هېر نه کړې

غوټۍ څه خیر! شونډې پرانیزه سیالي وکړه خو
دسپېرو شونډو موسېدۀ بې رانه هېر نه کړې

د ذکر فکر راسره دی چې سجده نه کوم
خاونده! نه چې په لمانځه بې رانه هېر نه کړې

ما نه د خپل زړه د قاتل خبره له یاده وځي
وخته! کاږه وارږه بانه بې رانه هېر نه کړې

جلال امرخېل

## غزل

دا چې درګرده، زه په زړه باندې لاسونه ږدمه
د زړه له درده، زه په زړه باندې لاسونه ږدمه

د عشق هنداري خړوي، د هوس باد را الوتی
له دغې ګرده، زه په زړه باندې لاسونه ږدمه

هغه غله سترګې بیا راغلې ده، لږ پام په کار دی
هغه بېهر ده، زه په زړه باندې لاسونه ږدمه

قاتلې! کو ساده د لمر په وړانګو پرخه سپاري؟
ته یې نامرده، زه په زړه باندې لاسونه ږدمه

داسې بې واره چې راګورې، نو څه چل خو شته دی
ځکه په زغرده، زه په زړه باندې لاسونه ږدمه

جلال امرخېل

## غزل

ستا تصوير د ګل تصوير

دواړه يو د بل تصوير

ډېر مې ورته وژړل

ما پورې خندل تصوير

مړ يې کړم په مړې ادا

مړه مړه راکتل تصوير

ستا سترګې زما سترګې

ګورم په کې خپل تصوير

تېښت نه ګوري تا نه دې

ښه دی يو په سل تصوير

زړه که خاورې نه کړي مرګ

وي به په کې تل تصوير

جلال امرخېل

## غزل

په شنه آبي جوړه کې مه راته په مخه راځه
انقلابي، جوړه کې مه راته په مخه راځه

ګلابي رنګ مې کمزوري ده، نه چې ودې ښېنم
په ګلابي، جوړه کې مه راته په مخه راځه

ګوره! روژه رالنډه شوې ده، کافر به مې کړې
سره، شرابي، جوړه کې مه راته په مخه راځه

سپينه جوړه دې مبارک، خو په عذاب اوړمه
دې ثوابي، جوړه کې مه راته په مخه راځه

د چاپې دار کميس مېرمنې! زړه مې شل رنګه شي
اظطرابي، جوړه کې مه راته په مخه راځه

پېښوری! ما له کابلي غرور نه مه خلاصوه
په پنجابي، جوړه کې مه راته په مخه راځه

جلال امرخېل

## غزل

هره کیسه له ما نه هېره ده، خو ته مې په یاد
شپېه، شپېه له ما نه هېره ده، خو ته مې په یاد

یو څوک خو وه، چې ته یې ما ته راترغاړې وېستې
درده! هغه له ما نه هېره ده خو ته مې په یاد

چې (نه) دې وکړه، په ژړا شوې نور مې نه یادېږي
هغه صحنه له ما نه هېره ده، خو ته مې په یاد

دې زمانې دومره له ډاګې ډاګې ویشتی یم چې
زما نامه له ما نه هېره ده، خو ته مې په یاد

ژمی، کابل، زما غربت او ستا نرۍ لوپټه
د باران شپه له ما نه هېره ده، خو ته مې په یاد

مورې! دنیا راباندې وچورلېده، سر مې درووند شو
مورې! قبله له ما نه هېره ده، خو ته مې په یاد

جلال امرخېل

## غزل

لکه غني، لکه خيام، نشه يې سترګو کې ده
د شرابي غزل د جام، نشه يې سترګو کې ده

جلۍ ولاړه ده په بام، نشه يې سترګو کې ده
ټالۍ وهي سر ماښام، نشه يې سترګو کې ده

لښکر په لر وطن ډاډه په يرغل ځکه ورځي
د بر وطن د قتل عام نشه يې سترګو کې ده

زما ياران د مړ پاچا په غلامۍ نازيږي
وايي چې، څه خو دنظام، نشه يې سترګو کې ده

مزارۍ پيغله پېښور کې هسکې سترګې ګرځي
د خپل پښتون پښتون باګرام، نشه يې سترګو کې ده

دا چې جلال دې اوس جانانه ګام په ګام پريوزي
ستا د تهمت، ستا د الزام، نشه يې سترګو کې ده

په ما دې ډکې پيالې بنګ نه څښي په شنه سبايي
په ما دې نه کي سلام نشه يې سترګو کې ده

جلال امرخېل

## غزل

په پټه، پټه نه کېږي اشنا مخالفت
په کار دی د سقاو ښه برالا مخالفت

دربار و او سرکار و، خو ناتار يې و په قام
اعلان کړ د مغول چې خوشالا مخالفت

سبا مې په سل واره بدترېږي تر پرون
کووم ځکه د دور د بقا مخالفت

چې هم يې د سر خير غواړې او هم د سر بلا
په دې ډول خو نه کېږي د چا مخالفت

ځه خيرا، زه يې منم، خو عجيبه خبره نه ده؟
نظام ته تبليغات او د پاچا مخالفت

جګړې د ارزښتونو زموږ لارې کړې جدا
په سرو، سپينو خو نه و زما او ستا مخالفت

جلال امرخېل

www.sikaraam.com

## ای ما ته ګرانې!

ته کله کله ما نه پوښتې، تاته ګرانه یم؟

شمېره! وشمېره!

د خپلو ګوتو په شمېرېې وشمېره!

لومړی دا چې ته مې مینه یې.

دوهم دا چې ته مې مینه یې.

درېیم دا چې ته مې مینه یې.

څلورم، پنځم، شپږم، اوم، اتم، نهم او لسم

چې ته مې مینه یې.

نزار قباني

## هغه دوه توري سترګې،

هغه لمريني او ......

زه به مې له پروردګاره هېڅکله، هېڅ څه و نه غواړم، مګر دوه څيزه:

يو دا چې هغه دوه سترګې وساتي.

او بل زماپر ژوند، دوه ورځې ورزياتې کړي.

چې دهماغو دوو سترګو په ستاينه کې

يو دوه نور شعرونه وليکم.

نزار قباني

## ته

رڼا په تکه توره شپه کې ته یې

راسره مل هره لمحه کې ته یې

دښته کې ته یې په ذره کې ته یې

د مرګ او ژوند په فاصله کې ته یې

تصویر په تشه ائینه کې ته یې

خو له عالم نه په پرده کې ته یې

دخلقت هره پدیده کې ته یې

په نور کې ته یې په ماده کې ته یې

ما وې پناه یې میکده کې څښمه

چا وې چې هره میکده کې ته یې

ستا یمه ستا په اراده کې یمه

لکه د زړه مې په سینه کې ته یې

کلیسا ګانو او ګرجو کې هم یې

نه چې یوازې په کعبه کې ته یې

زه به کافر یمه که دروغ به وایم

زما د زړه په دریڅه کې ته یې

جلال امرخېل

# غزل

لکه غني، لکه خیام، نشه یې سترګوکې ده
د شرابي غزل د جام، نشه یې سترګوکې ده

جلۍ ولاړه ده په بام، نشه یې سترګوکې ده
ټالۍ وهي سر ماښام، نشه یې سترګوکې ده

لښکر په لر وطن ډاډه په یرغل ځکه ورځي
د بر وطن د قتل عام، نشه یې سترګوکې ده

زما یاران د مړ پاچا په غلامۍ نازیږي
وایي چې، څه خو د نظام، نشه یې سترګوکې ده

مزارئ پیغله پیښورکې هسکې سترګې ګرځي
د خپل پښتون پښتون باګرام، نشه یې سترګوکې ده

دا چې جلال دې اوس جانانه ګام په ګام پرېوزي
ستا د تهمت، ستا د الزام، نشه یې سترګوکې ده

په ما دې ډکې پیالې بنګ نه څښې په شنه سبایي
په ما دې نه کوي سلام، نشه یې سترګوکې ده

جلال امرخېل

# غزل

دا چې دومره پرېشانه ده صحرا
ښاره! مړه ستا له خفګانه ده صحرا

ته (زما) په معنا ولې نه پوهېږې
په (ذره) باندې ودانه ده صحرا

ما د ښار شور ته ورغورځوي چې مړ شم
له پښنو نه مې روانه ده صحرا

لکه زه چې ستا د سترګو په لټون یم
هسې ګله سرګردانه ده صحرا

د مجنون د یاد پلونه یې وروران کړل
مروره له بارانه ده صحرا

د خفګان پر وخت یې تل غېږ ته ورولېږم
لکه مور راباندې ګرانه ده صحرا

جلال امرخېل

## غزل

د ائينې مخې ته سترګې توروي او خاندي
د چا وژلو لره ځان تياروي او خاندي

هغه اسمان چې مونږ ترې تمه د پناه لرله
هغه پر مونږه تندرونه غورځوي او خاندي

دوی د سپېڅلي لېونتوب له رازه څه خبر دي؟
دا خلک پرېږدئ چې بس کاڼي وروي او خاندي

دې ته پرون ما د خپل زړه خبره سپينه وکړه
دا جينۍ ګورې! دا چې سترګې تيټوي او خاندي

سترې، ستومانه مسافر ګلونه پس راغلمه
مور مې راغاړې وته، اوښکې تويوې او خاندي

جلال ساده دی لا د دروغو په چل نه پوهېږي
ګله چې دروغ وايي نو سترګې اړوي او خاندي

جلال امرخېل

# غزل

د پرهر څرېکې په شور شي، پټ دردونه پرې درانده شي
هدیرې شي غوټۍ، غوټۍ چې روحونه پرې درانده شي

محبت چې سرې مات کړي، اندامونه پرې درانده شي
خپل وجود وربانديې بار شي، خپل لاسونه پرې درانده شي

د قاتل تخت به ډوبېږي، که مقتل ډک شي له وینو
او رسۍ به د دار شلېږي، که سرونه پرې درانده شي

چې د زړه په درد شي پورته، ورته تاب وبايلي غرونه
منعکس يې کړي صحرا ته، اوازونه پرې درانده شي

نور سینګار ته حاجت نه شته، یو شین خال پر تندي پرېږده
هر تصویر بدرنګه کېږي، چې رنګونه پرې درانده شي

ستا غمونه دې انبار وي، او جلال دې وي یوازې
هغه سترګې دې ړندې شي، چې ګلونه پرې درانده شي

جلال امرخېل

## غزل

پروت په مورچل کې د جهاد، په عنبرينو څڼو
خاونده! ته يې لرې ښاد، په عنبرينو څڼو

خدايزده شهيده! تورو خاورو کې به څنګه پروت يې؟
بېګا همزولو کړلې ياد، په عنبرينو څڼو

غونچې غونچې پر مخ راغورځي، څه چاره يې وکړه
کړې به تباه جلال آباد، په عنبرينو څڼو

سر دې ټيټ نه کړ د دې دور فرعوني غرور ته
پښتون فطرت دې کړلو زباد، په عنبرينو څڼو

زما اروا ورږمه ورږمه لکه د مشکو عطر
نرۍ نرۍ لګېږي باد، په عنبرينو څڼو

زما غزل نقاد ته داسې، لکه ښکلې مئين
ولاړ وي مخ ته د جلاد، په عنبرينو څڼو

جلال امرخېل

## غزل

راځه چې لاړ شو د الفت زړې دنيا ته واپس

له ابتدا څخه زړګيه انتها ته واپس

دژوند طوفان په يوه داسې موړ کې ودرولم

چې نه خو مخکې تګ کولی شم نه شاته اوپس

د زمانې ګردش په هر ګوټ پېر ټکرې راکړې

اخر هم راغلمه په پښو پرېوتم تا ته واپس

د تور تهمت له توره تورې هديرې سپينې دي

راځئ چې بېرته شو د سرو تورو خرپا ته واپس

راغاړه وتی درد د ايسته غورځولو نه دی

دا ډکې، ډکې سترګې څنګه کړم خندا ته واپس

خدای به مې لنډې کړي د اوښکو تويولو شېبې

په ننو پلونو به نه راځم سبا ته واپس

ستا امرخېل په داسې تکو تورو لارو سر شو

امېد مې نه شته که به چېرته شي رڼا ته واپس

جلال امرخېل

## غزل

ناشکره نه یم، خو احسان، پر اوړو نه شمه وړی
خاونده! مړ ښه یم چې ځان پر اوړو نه شمه وړی

زه ورته نه وایم چې زه درسره مینه کوم
زه جنازه د خپل ارمان، پر اوړو نه شمه وړی

اخر انسان یمه، ماتېږمه څه غر خو نه یم
دومره غمونه د جهان، پر اوړو نشمه وړی

زه د قاتل د مړي کټ ته هم اوږه ورکوم
زه تهمتونه د وجدان، پر اوړو نه شمه وړی

جلاله! نه د محبت سپکه کولی نه شم
د زړګي درد مې، د درمان، پر اوړو نه شمه وړی

جلال امرخېل

## غزل

عشق چې سرې ولري
هله به خوارېه لري

ژوند زما او ستا کيسه
بله معنا نه لري

غم دې رانه منع کړه
کار راسره څه لري

زړه مې ساه نيولی دی
رنځ د بېلتانه لري

مينه د جلۍ ستر ګې
اور لري اوبه لري

هسې جلال نه دی مات
مات په زړه بانه لري

جلال امرخېل

## غزل

غم د جانان له سترګو پټ مه ساته
سعوده ځان له سترګو پټ مه ساته

پرې چې د کلي هدیره لویه شي
ما د امکان له سترګو پټ مه ساته

دا خیانت دی لېونتوبه زما
خیرې ګرېوان له سترګو پټ مه ساته

لمر به رڼا درنه په شا ستنه کړي
ځمکې اسمان له سترګو پټ مه ساته

عشقه یو بل د تاج محل تصور
د شاه جهان له سترګو پټ مه ساته

سعوده شونډې به یې سرې لمبې شي
د چا پېزوان له سترګو پټ مه ساته

سید شاه سعود

## راته څولۍ کې يې الماس

## کېښودو

سترګې يې پټې وې بې هوشه ښاپيرۍ پرته وه
په هسپتال کې مې اسره د زندګۍ پرته وه
ددې د اوښکو هغه داغ راته سم نه ښکاريدو
بل شوی نه ولا څراغ راته سم نه ښکاريدو
هغه څراغ چې په امکان کې يې دنيا پرته وه
پکې زما د تخيل ټوله دنيا پرته وه
سترګې يې پټې وې ما هم په سترګو لاس کېښودو
راته څولۍ کې يې بې عيبه يو الماس کېښودو

زمونږه غبرګې دعاګانې دې قبولې کړلې
څراغ مې بل شو رڼاګانې دې قبولې کړلې
خالقه څمه همدا اوس د رته سجده کومه
دا شعر مې خير دی که همداسې ناتمام پاتې شي

سيد شاه سعود

## غزل

لاس مې قلم سره بلد دی پکې توره نه ده
سپوږمۍ د حسن تصور باندې لا بوره نه ده

په تخیل مې اندامونه څه اثر نه لري
زما سندره لا زما غوندې رنځوره نه ده

چې د موسکا طلب ترې وکړمه موسکۍ شي راته
بیا راته وایي ( الله ته لا منظوره نه ده

زما په ځان باندې باور دی زه هم هغسې یم
راته دروغ وایي هېنداره بې قصوره نه ده

نرګس خو هسې اسطورې بدنامو ي سعوده
سترګه یې وګوره مجبوره ده مغروره نه ده

سید شاه سعود

## غزل

چې د مینې په مانا باندې پوه نه شو
هغه کس په زمانه باندې پوه نه شو

ستا شاعر په سُرابونو کې راګیر وو
د ژوندون په افسانه باندې پوه نه شو

بېخودي مې لېونتوبه پورې لاړه
ساقي هېڅ په پیمانه باندې پوه نه شو

سمندر یوې خپې ځان سره یووړو
د حُباب په استانه باندې پوه نه شو

د مېږې وزرې و شوې خو سعوده
د غنمو په دانه باندې پوه نه شو

سید شاه سعود

## بغاوت

سمندر نه دشته څه رنګه سا زېږي
د سیندونو لارې څه رنګه بدلېږي
ستورې څنګه له مداره شي په منډه
بس هم داسې بغاوت را پیدا کېږي

بندې لارې دېوالونه زنځیرونه
د دلیل او د برهان محتاجه نه وي
چې قانون د خپل تضاد په سر ولاړ وي
هلته ستورې د اسمان محتاجه نه وي

که نظر مغالطې لې خو بیا هم
آزادۍ سره احساس تړلی بنه دی
چې د بل سرې په وینو ککړېږي
نو بیشکه هغه لاس تړلی بنه دی

مګر هسې بې سببه، بې علته
د چا لاسو کې زنځیر د څه نامه ده
غلامۍ لره منطق چا سره نشته
[illegible]

www.sikaraam.com

استحصال او مجبوري او لوږه، تنده
د پاڅون نه سېوا بله لاره نه وي
په غوبنتلو چې حق نه ترلاسه کېږي
د شبخون نه سېوا بله لاره نه وي

د پاڅون په وخت کې خلك دا ګڼي چې
بغاوت په ګلابونو تمامېږي
مګر وینې چې یو ځل په بهیدو شي
نو اخر په سېلابونو تمامېږي

سید شاه سعود

## بیا زما د مخ په لاره چرته مه ځه

ستا د مخ په لاره لاړمه سپوږمۍ ته
د سپوږمۍ یوه کوڅه کې مېکده وه
ما زیګر پکې بې حاله نڅېدلو
پکې مینه د بوډۍ په ټال ویده وه

زه له هوشه له حواسه بې خبره
ستا د مستو مستو سترګو په نشه کې
پلوشو نه مې راډکه کړله غېږه
شنه لوګي شو را څرګنده په لمبه کې

په سپوږمۍ کې د هېنداري حکومت و
د زړه تار نه مې نغمه په ستنېدو شوه
ستا د مخ شمع مې بله وه په زړه کې
لړه نته غونډې شوه په رپېدو شوه

زه حیران ومه چې ستا د مخ په لاره
اخر ولې هم له تا لرې کېدمه
ما خو وی چې زه به نور هم درنږدې شم
خو تېر وتی وم اشنا لرې کېدمه

www.sikaraam.com

ما خو وی چې ستا د ښکلي مخ په لاره
د سپوږمۍ په پلوشو کې به هم ته یې
ما خو وی چې کاینات به دې نامه وي
د اسمان په شنه ورشو کې به هم ته یې

ما دې مینه د رڼا په څېر ګڼله
خبر نه وم چې رڼا خو یو حجاب دی
خبر نه ومه چې تنده ده اوبو کې
په دریاب کې خو څپه څپه سُراب دی

ستا د مخ په لاره بېرته راوا پس شوم
تر آخره مې ښکلا احساسوله
ته زما په حال خبر معلومېدلې
ستا په شونډو مې موسکا احساسوله

بیا دې ورو غونډې نظر کړلو راپورته
بیا دې وویل دلداره چرته مه ځه
ګوره اوس خو د هرڅه په حال خبر شوې
بیا زما د مخ په لاره چرته مه ځه

سید شاه سعود

بلاګې

نه خوړ کېږې ! نن په دغه لاره مه ځه
همدا اوس مې يو ملګري راته ووې
چې د کلي نه يو څو قدمه لرې
يوه توره او بد رنګه بلاګې ده
هسې نه چې دا سپېڅلې لوپټه دې
په خپل جرم او ګناه باندې لمده کړې
هسې نه چې دا څرمنه د رنه غلا کړې
نه خوړ کېږې ! نن په دغه لاره مه ځه
هسې نه چې دا بد رنګه بلاګې مو
ستا څرمنه کې د کلي منځ ته راشي .

سيد شاه سعود

## غزل

دشته به دغلته سپوږمۍ لاندې بېګا له نه وي
سترګې به تتې وي هېنداره به سبا له نه وي

زموږ د کلي ماشومانو نه خندا هېره ده
خرپوسې نه کوي په غېږه کې خوشحاله نه وي

خدا که دې څوك په عاشقانو کې نامه هم واخلي
فرهاده ورك به شې چې لاس کې دې ګُداله نه وي

په خېل شاعر باندې ګومان د لېونتوب مه کوه
هغه مجذوب نه وي جانانه چې بې حاله نه وي

د چم ګاونډ د جينکو منګولې تشې بنکارې
لکه چې کلي کې سعوده بنګړيواله نه وي

سيد شاه سعود

## غزل

له ژونده پورې غاړه لویه هدیره کې رڼا
راوځي نه ترې بندیوانه ده لمبه کې رڼا

ما بعه رنګونه جوړول خو څوك پرې نه پوهېدل
خلکو نه هېره وه زما په زمانه کې رڼا

د مینې مړ وجود مو هره آئینه کې خخ دی
څلی یې وکنه راواخله ترې بېلچه کې رڼا

ماده پرستو په ترياقو ځان وژنې وکړې
موږه تر لاسه کړه د زهرو په کاسه کې رڼا

مینه چې وګوري هېنداره کې سعوده نو څه
څه په کچکول کې ترنم څه په کاسه کې رڼا

سید شاه سعود

## غزل

زړه کې مو وهم دی، لېمو کې مو وحشت اوسېږي
زمونږه ذهن کې له ځانه هم نفرت اوسېږي

داسې یو حال راباندې تېر شولو چې ومې لیدې
والله چې نن خو دې په سترګو کې قیامت اوسېږي

په هره ژبه دې نعرې د انقلاب، انقلاب
په هر نظر کې یو سپېڅلی بغاوت اوسېږي

په پېښور کې مې د زړه غوندې پراخه میدان
او د خیبر په دنګو څوکو مې عظمت اوسېږي

د مینې کور و مکر اوس د عداوت مینه ده
ماده پرستې دې جذبو کې تجارت اوسېږي

دغه ځپې به مو په سر باندې راځې سعوده
چې سمندر زمونږ د سطحې نه اوچت اوسېږي

سید شاه سعود

غزل

سترګې مې پټې شوې موسکا مې بې اساسه شوله
زما کیسه خو بس همدغه وه چې خلاصه شوله

چې ښایسته وه زندګي بې نمایشه لاړه
بیا چې بد رنګه شوه هېنداره یې تر لاسه شوله

زما جذبه وه په شپېږمه دروازه مَینه
په هر څه پوهه شوه چې کله بې حواسه شوله

داسې په وخت باندې خو خلك دفترونو ته ځي
جانانه خېر دی که یوه شیبه د پاسه شوله

ما وې چې زه به دا بُتان په تبرګي وهمه
راغله د سترګو په مندر کې مې دیوداسه شوله

سیدشاه سعود

## غزل

شمع چې نه وي نو رڼا مو سترګې نه جوړوي
رانه چاپېره وي دنيا مو سترګې نه جوړوي

راځۍ چې اوښکو نه لمدې کړو د اسمان لمنې
د دې نه مخکې چې ژړا مو سترګې نه جوړوي

د مينې لاره ده زمبل نه تر زمبله پورې
د زړه خبره وي ليلى مو سترګې نه جوړوي

منو چې حسن کې يکتا دي د نرګس ګلونه
په دې ترې ښه يو چې تنها مو سترګې نه جوړوي

په منځ کې ښه يو د نيستى او د هستى سعوده
بقا مو نه ساتي فنا مو سترګې نه جوړوي

سيد شاه سعود

# ستړکې دې پټې ساته

ستړکې دې پټې ساته، پټې ساته، پټې ساته
خلکو په رنګ او په رڼا باندې څه چل کړې دی
د کلي پيغلې په هېنداره کې تصوير ماتوي
يو جادوګرېې په موسکا باندې څه چل کړې دی

ستړکې دې پټې ساته، پټې ساته، پټې ساته
که څه دې وليدل نو حال به يې ويلی نشې
که دې له خولې خبره ووته د کاڼي به شې
داسې خبره چې په زړه کې يې ساتلی نشې

ستړکې دې پټې ساته، پټې ساته، پټې ساته
دلته په دې کلي کې څوك هم چا ته نه ښايي څه
د هر سړي په تصور باندې څه چل شوی دی
بلا خبرې دي خو څوك هم چا ته نه وايي څه

غزل

ته خو راز یې څرګندېږي رانه ولې
لېونتوبه معلومېږې رانه ولې

تصوره د تصویر په آئینه کې
جوړومه دې ورانېږي رانه ولې

عشقه ما لا اجازه اخیستې نه ده
بې تپوسه روانېږي رانه ولې

آئینې نه مې راوباسه باهرته
نیمه لاره کې ستړېږي رانه ولې

زه دې برخه یم په سترګو کې سعوده
زما څانګه یې ماتېږي رانه ولې

سید شاه سعود

## غزل

پرېږده چې ور ډوب شمه د ریاب رانه ستنېږي نه
ستا په شانتې نه دی د وعدې نه وروستو کېږي نه

بس په چا مېن یمه ساده غونډې خبره ده
پرېږده مړه! ستا پرې باندې سر هډو خلاصېږي نه

لمر چې راختلو نو یو کس راته موسکی شولو
وخت په ځای ولاړ دی نن په ما نا وخته کېږي نه

نه چرته غزل شولو نه نظم نه سند ره شوه
داسې غم دې راکړلو چې هېڅ ترېنه جوړېږي نه

نن نه پس به هر سړی بې لوڅه محبت کوي
نورې ودانۍ به په دې کلي کې ورانېږي نه

سید شاه سعود

# ستا رضا وه

ما خو هیڅ د خپل طرف نه کړي نه دي
ستا رضا وه چې په روح کې مې ساتلې
ستا رضا وه چې اعلان مې نظر وکړو
ستا رضا وه چې په ما کې ښکاریدلې

اوس چې وایې راته ولې دې ښکاره کړم
نو صورت دې راله ولې راکولو
چې جلوه مې دې په سترګو کې ساتله
اجازت دې راله ولې راکولو

ما خو ځان بیخي له منځه وباسلی
زه خو نه ومه هم ته وې بس هم ته وې
زما نور، زما رڼا، زما نظر وې
زما روح وې، زما ځان وې، زما زړه وې

نو په دې کې بیا له ما د څه پوښتنه
زه خو تشه آئینه وم د رکټل مې

هر عمل مې ستا د ټکو نه ژباړلو
زه خو نه ومه هم ته وې چې کول دې

که ازغي هم راکوې راله دلبره
زه مېن یمه ګلاب به د رکومه

که دې هر قسمه پوښتنه رانه وکړه
بس هم دغه یو ځواب به د رکومه

ما خو هېڅ د خپل طرف نه کړي نه دي
ستا رضا وه چې په روح کې مې ساتلې
ستا رضا وه جې اعلان مې نظر وکړو
ستا رضا وه چې په ما کې ښکارېدلې

سید شاه سعود

## غزل

ستا له نظره مې پوښتنه د څواب نه ښه ده
دا وچه څانګه د نرګس او د ګلاب نه ښه ده

دا توره شپه چې پکې هیڅ چا ته څه نه ښکاري ږي
د لمر په سترګه مې قسم چې د سُراب نه ښه ده

نور مې نظر د چا په وینو ژړېدلی نشي
په حال د صبر فلسفه مې انقلاب نه ښه ده

دا رنګینه ګناه په ما باندې بلا ګرانه ده
چې د چا زړه ازاروي هغه ثواب نه ښه ده

ستورو دې زېرې د راتلو راباندې هم کړې دی
نننۍ ورځ مې په تقویم کې د حساب نه ښه ده

سید شاه سعود

## غزل

رنګ د نظرو د رڼا په لاس کښې هيڅ هم نه وو
بس يو سُراب و نور د چا په لاس کښې هيڅ هم نه وو

يوې شيبې له مې دې سترګو نه غفلت کړې و
چې خبرېدمه بيا زما په لاس کښې هيڅ هم نه وو

نرګس په لپه کښې اعلان د خپل وجود کولو
نور د ګلاب او دلالا په لاس کښې هيڅ هم نه وو

څه بې تعبيره مې يو خوب کښې زندګې تېره کړه
ستا د تصوير نه مې سېوا په لاس کښې هيڅ هم نه وو

دا زه او ته پکښې سعوده لا دکومه راغلو
چې د زردشت او د بودا په لاس کښې هيڅ هم نه وو

سيد شاه سعود

غزل

رنګ او نور د څراغونو نه ازاد کړه
ما دخپلو اندامونو نه ازاد کړه

لږ مې پرېږده چې غور ځنګ ورسره وکړم
تخیل مې حُبابونو نه ازاد کړه

ځان مې خپله د مرۍ نه رانیولی
راشه ما خپلو لاسونو نه ازاد کړه

یا د حق او صداقت خبرې پرېږده
یا نظر د سُرابونو نه ازاد کړه

روح مې لوڅ کړه چې لغړ په لارو ګرځي
نمایش مې لباسونو نه ازاد کړه

په جذباتو جبر مه کوه سعوده
سیلابونه، دریابونه نه ازاد کړه

سید شاه سعود

## غزل

جانانه صبر شه لږ نور هم انتظار پاتې دی
راته دقام په جوړولو کې لا کار پاتې دی

خلك ويده دي په خوبونو کې خوبونه ويني
يو ليونی دی چې تر اوسه لا بېدار پاتې دی

د چا په غم کې يې اوبو ته وردانګې نه وي
د سيند په غاړه چانه دغلته ستار پاتې دی

لا مې نيستی د استغنا لاره موندلې نه ده
لکه حاتم مې لا په جيب کې يو دينار پاتې دی

نه مو سينه کې هغه زړه د پښتنو درزېږي
نه مو شمله نه مو په سر هغه دستار پاتې دی

دا چې کاغذ نه جاله وانو له جامې جوړوي
زمونږه کلي کې بس دغه يو هوښيار پاتې دی

چا يو سکڼي شانتې ماښام سره تړلی يمه
رانه سعوده په هېنداره کې سهار پاتې دی

سيد شاه سعود

د جنون لاره

سور غمی زما په ګوته دی سعوده
شنه خازه د چا مزار باندې رپېږي

د کړېوان تنې مې وسلېده چې تلمه
لاره خپله د جنون راته سمېږي

څلوريزه

رڼا راتوبول ورله رنګونو نه رانجه
ساتلې مې په سترګو کې و راز د يو سړي

انځور مې زولنو کې ورلېږلو د شعور
اخر مې حقيقت کړلو مجاز د يو سړي

سيد شاه سعود

غزل

www.sikaram.com

په بام ولاړه ده سپوږمۍ سره خبرې کوي
یوه جینۍ، بلې جینۍ سره خبرې کوي

که دا دې حکم وي حاکمه زه یې نه منمه
چې هر سړی دې ازادۍ سره خبرې کوي

رباب که ړنګ دې په مېږ باندې یو حال راولي
لکه ادم چې درخانۍ سره خبرې کوي

لکه چې زه به په خوب کې ورته هیڅ نه وایم
سعوده څومره صفایۍ سره خبرې کوي

سید شاه سعود

# دغه لاره د سپوږمۍ په لوري نه ځي

رڼا لمر نه تر څراغه پورې راغله
دې نه وړاندې د هستۍ په لوري نه ځي

راواپس شه، راواپس شه ، راواپس شه
دغه لاره د سپوږمۍ په لوري نه ځي

پام کوه په ستنېدو کې لاروېه
هر قدم باندې یو دام په لاره پروت دی
هر نظر باندې یې لږ د رسره واخله
یو سکنی غونډې ماښام په لاره دی

ستنېدل هم څه اسانه کیسه نه ده
چې راځې نو درنۀ لاره هېره نشي
خپلې سترګې امانت درسره ساته
د نظر نه دې هېنداره هېره نه شي

هسې نه چې ستا په نوم باندې زړګیه
څوك د بل چا په څېره کې راواپس شي
هسې نه چې دا وړه غونډې سپرغۍ هم
تکه توره شي او شپه کې راواپس شي

سید شاه سعود

# غزل

هر طرف ته مینه مینه وه انسان خو داسې نه و
خدایه څه وړباندې وشو دا جهان خو داسې نه و

ستا د زلفو په زنځیر کې مې خوبونه هم بندي شو
ازادي ته مې زړه نه کیږي زندان خو داسې نه و

کردارونو له یې ژبه د ځنګل په شانتې وړکړه
چا وحشت پکې پیدا کړلو داستان خو داسې نه و

دا څه نوې کیسه نه ده خو عجبه غونډې ښکاري
زه یې پرېښودمه لاړلو جانان خو داسې نه و

په هینداره کې مې مخ راته پردی پردی ښکارېږي
دا به بل څوک وي سعوده زما ځان خو داسې نه و

سید شاه سعود

غزل

په رېښې رېښې څادر کې وچې څه شو
یو سرې مې په نظر کې وچې څه شو

لېونتوبه زه دې څه کړم زه دې څه کړم؟
زما نوم خو دې په سر کې وچې څه شو

تېغ په لاس راځغلېدلو پرې مَېن شوم
یو دښمن مې دې لښکر کې وچې څه شو

زندګي مې یو حباب کې امانت وه
او حباب مې په شرر کې وچې څه شو

ستا له سترګو راروان و ما لیدلو
یو غزل مې په سفر کې وچې څه شو

سید شاه سعود

غزل

لمبې دي په وجود کې مو بلېږي زندګي
بس ښه ده چې همداسې مو تېرېږي زندګي

شېبه شېبه يې اخله تر امکانه بل امکان
کوه يې چې تر کومه پورې کېږي زندګي

د لېږې نه مې ځاځي اندامونو ته رخصت
زه وړاندې وړاندې ځمه او ستنېږي زندګي

رودونو کې ولاړې دي اوبه د معرفت
رګونو کې روانه ده بهېږي زندګي

په ټولو مهربانه ده سعوده خو افسوس
په ما لکه د کاڼو راورېږي زندګي

سيد شاه سعود

# غزل

د چا حسن دې لمبه راکوي پيره
په نغمې پسې نغمه راکوي پيره

ښه او بد ورسره زه حسابومه
زمانه هم زمانه راکوي پيره

د رڼا په تعارف کې دې هېر نشي
چې هم دا به راله شپه راکوي پيره

د چا حسن، د چا مينه، د چا سترګې
د غزل يوه شېبه راکوي پيره

عناصرو نه جنګونه را ټوکېږي
دغه هر څه حماسه راکوي پيره

د دېوال غوندې مې مخې ته ولاړ وي
ځان پخپله فاصله راکوي پيره

سيد شاه سعود

## غزل

یا مې خپل کړه یا مې لرې کړه له ځانه
ما نیمګړې داسې مه پرېږده جانانه

د ځنګل ګومان پرې مه کوه صحرا ده
دلته هر څه بس هم دغه دي نادانه

چې غلبیل کې مې اوبه د رله داورې
دا هم ستا مهرباني وه مهربانه

ستا د سترګو په اسره باندې ولاړ یم
بې وجوده، بې نظره، بې جهانه

سید شاه سعود

## غزل

یو عشق و چې هر چاته یې سپارلی ومه زه
د سترګو نه چاپیره یې ساتلی ومه زه

یو ځل راته له نا زه تا ویلي وو چې نه
بیا نه وم چې واپس درنه راغلی ومه زه

اوس پرېږده چې هم داسې منتشر په لاره ځم
هم تا راته په نورو کې ښایلی ومه زه

یو حال راباندې خور و تر آخره د جمال
تصویر ومه هم دلته دې کاږلی ومه زه

اوس ولې داسې وایې چې پردی شولو سعود
ازغی ومه له سترګو دې باسلی ومه زه

سید شاه سعود

## غزل

ربا مو وژني هم ربا راله ژوندون راکوي

بقامو نه ساتي فنا رال ژوندون راکوي

ګلاب د سترګو په سرحد باندې موسکی شي راته

یوه کاشغه د موسکا راله ژوندون راکوي

د خپل وجود په تضاداتو کې نښتی یمه

چې نن مې قتل کړي سبا راله ژوندون راکوي

د غم په ټکي مې ګومان د معرفت کړی دی

صبر نه واخلي استغنا راله ژوندون راکوي

روح نه مې سپړي نا لیدلې زولنې سعوده

د چا دعا ده چې مولا راله ژوندون راکوي

www.sikaraam.com

## غزل

بېې رڼا هم رڼا راکړه لېونتوبه

يوه نوې دنيا راکړه لېونتوبه

چې اېره شم سمندر ته مې واپس کړه

چې لمبه شم هوا راکړه لېونتوبه

لا وجود مې آئينه کې راته ښکاري

لږه نوره فنا راکړه لېونتوبه

اوس په حال باندې د صبر نه خبر شوم

نن مې واخله سبا راکړه لېونتوبه

چې په برخه مې اشنا کې ورکېدل وو

بيا دې ولې انا راکړه لېونتوبه

چې بېخې ددې وطن له خلکو هېر شم

يوه داسې ادا راکړه لېونتوبه

سيد شاه سعود

www.sikaraam.com

## غزل

چې راوګورې یو حال راباندې تېر شي

ما زیګر لکه د خیال راباندې تېر شي

بس یوې شیبې له سترګې کړه راپوته

باقي عمر دې زوال راباندې تېر شي

ستا د چم خبرې لاړې شي حجرو ته

زه ولاړ یم کلیوال راباندې تېر شي

زهرجن وي مانېامونه خو چې ته یې

د ګلونو په مثال راباندې تېر شي

تېوله ورځ یې انتظار کې یم سعوده

هر ساعت لکه د کال راباندې تېر شي

سعید شاه سعود

www.sikaraam.com

## غزل

بیا له سره شي سفر راته د صبر

رانه زړه د چا ازار شي بیا سعوده

نن يې تش په يو نظر باندې په خلا کړه

دا غزل به دې په کار شي بیا سعوده

بل قدم به مې په ستورو باندې پروت وي

چې خبره د رفتار شي بیا سعوده

نه وعده راسره وکړي، نه ونه کړي

نه اقرار شي نه انکار شي بیا سعوده

سترګې پټې کړي له اوښکو مرغلرې

ستوري لاندې راګوزار شي بیا سعوده

چې د ښار هره کوڅه کې يو منصور وي

څوک به څه رنګه په دار شي بیا سعوده

## غزل

په ځان وېرېږو چې هېنداره مو هنر وانخلي
څلورو سترګو نه مو کار د یو نظر وانخلي
خلك اظهار د آزادۍ په شاتې کفر ګڼي
ددې غزل په بدله کې رانه سر وانخلي
د ژوندګۍ په دغه لاره کې خو ټول ازغي دي
داسې به څوك وي چې په زړه هډو پرهر وانخلي
راځئ چې داسې یو سړی د قبیلې مشر کړو
چې د خیبر کاڼو ته لاس کړي او ګوهر وانخلي
د وینو ترې دلته هسې بهانه لټوي
منصوره پام کوه چې څوك د رنه اثر وانخلي

نورو ته وخاندي اشنا لکه دګل سعوده
زه ترېنه هېر شمه زما هډو خبر وانخلي

سید شاه سعود

## غزل

ګلاب له ګوتې وړې بیا ، اول ازغې ته ګوري
سړی خبره چې کوي نو لږ سړي ته ګوري

یو کس په ډکه مېخانه کې وچې شونډې ولاړ
کله کاسې ته، کله خُم، کله ساقي ته ګوري

بهر کو څه کې څوك نښتي دي ګولۍ وروي
ځاله کې ناسته ده چنچنه خپل بچي ته ګوري

رنګ یې بدل دی پته نشته چې په زړه یې څه دي ؟
په لاس کې لیکې لټوي زما تلي ته ګوري

سجدې نه پسته رانه ورکه شي دنیا سعوده
کله مې ګس طرف ته ګوري، کله ښي ته ګوري

سید شاه سعود

## غزل

ستوري نه لرو اسمان دې رانه ورك دى
محبته ټول جهان دې رانه ورك دى

تخيل نه مې تر حاله پورې ته يې
چوپ ولاړ يمه اعلان دې رانه ورك دى

يا مې صبر د رضا تر حده تللاى
يا مجذوب يمه ارمان دې رانه ورك دى

له وجوده دې منكر نه يمه عشقه
ته موجود يې خو امكان دې رانه ورك دى

حسنه هر څه دې نيمګرى راته ښكاري
پسې ګرځمه پېزوان دې رانه ورك دى

سيد شاه سعود

## غزل

اوري له هر لوري په ما ستا د بيلتون کاڼي دي
زيړي مې په تا پسې اشنا د ژوندون پاڼې دي

ستا په زيړ بخنو اننګيو باندې سرې زخمې
ته وا د ګلاب په زيړو پاڼو کښې ممانې دي

راغلې د ګودر په لوري دنګې غاړې وګوره
ته وا چې په سيل راوتي بطې دي يا زاڼې دي

خپله که سپرلی نه خو کم د سپرلي هم نه دی
مخ يې د ګلاب په څير او شونډې يې ګلپاڼې دي

ځار دشم د مينې مخبت خوږې قيصې کوه
مه کړه د نفرت قيصې ترخې لکه بيکيانې دي

نشته دي درمانه داسې څوك چې يې خوښيږي نه
ښکلي پيدا شوي په مثال لکه زرکانې دي

قدرت الله درمان

غزل

له ونې تیټ له رنګه تور دی د ببري انځـــــور دی

دا خو زما د زړه په بام د مات کودي انځـــــور دی

دا د په خیال خاطر کې رانشي چې هیر به د کـــړم

جانانه ستا د مخ تصویر مې په زړګي انځـــور دی

د غره لمن کښې اشنا بیا د بوډۍ تال جوړ شــــوی

راشه ته ګوره ستا د شنه او سره ټیکري انځور دی

زما په خاوره داسې ځای نشته چې ژوبل نــــه وي

په هر نښتر په هر چینار د مړدکي انځــــــور دی

دنګه ځواني نرګسي سترګې او ګل ګل اننګــــــــي

نظر يې مه کړې جانان واړه د سپرلي انځـــور دی

چې درته ګران نه وم قربان د شمــــــــه دا ووایــه

دا دې درمان تورى د څله په منګي انځــــور دی

خير که دا تو له زمانه مې په کيسه کښې نـــــه ده

خبره دا ده چې هغه مې په کيسه کښې نـــــه ده

ما سره خلکه زما خپل زړګی په لاره نه ځـــــــي

زما د خپل وجود حصه مې په کيسه کښــــې نه ده

چې مخامخ وم نو د دواړو سترګو تور يې ومـــــــه

چې لږ پناه شم نو ذره مې په کيسه کښې نــــه ده

اشاره وکړي خو په ښه او بد يې پوی نه نشمـــــه

دا ستا د سترګو فلسفه مې په کيسه کښې نه ده

فکر مې نه شي چې درمانه ما تر غاړې يوســـــي

د بيلتانه د سيند څپه مې په کيسه کښې نـــــه ده

څه غاړه دې خلاصه چې هر څه وايي قربان دې شم
غلي نه شي وايه وايه ښه وايي قربان دې شم

زه خو دې قربان شم په همدې ادا وژلی يـــــــــم
آخ چې په اومه خولګۍ پـــاخه وايي قربان دې شم
وکړه دا وعـده چې به مې نيمه لار کې نـــه پرېږدې
هغه به کومـــه څه چې تـــــــــــه وايي قربان دې شم
دا دې جفا وګڼم کـــــه ناز د ياراني يــــــــــــاره
کله د هيڅ نه وم کله زړه وايي قربـان دې شــــــــم
ښه د پيژنم چې بده ورځ شي په کار نه راځـــــــي
څه معنا چې اوس خواږه خواږه وايي قربان دې شم

نن يې راته ووې چې درمانـــــــه ياره پام دې وي
ما ته به د خلکو منځ کې نه وايي قربان دې شــــــم

په نیم کښو تمبو کښې ستا د مخ دیدار کومه

راشه ته گوره څه نیمګړی شان خمار کومـــــــه

چې هر څه کیږي ورله ځم د زړه اظهار کومه

په یک محفل کښې په جانان د گل ګذار کومه

ته به تر کومې راکوې دا دروغجنې وعدې

زه به تر څو پورې جانانه انتظار کومــــه

د بې وفا جانان نه طمعه د وفا لرمـــــــــه

څه لیونی یم څه ناشونی غونډې کار کومه

تاته چې زه د خپل خوږمن زړګي زخمونه ښایم

دا لکه زه چې په اسمان د ستورو شمار کومه

خدای خو د نن چرته راپیښ کړه غیبانه درمانه

په بلې ناسته یم د لوېې لارې څار کومــــه

# غزل

- 
- *غزل*

*داسې سر عام غيږې ته مه راځـــــه*

- *ځان به کړې بدنام غيږې ته مه راځه*

- *سترګو کې سلام کوه دا ډيــــــره ده*
- *نه نه ګوره پام غيږې ته مه راځــه*
- 
- *کلی واړه ډک له رقيبانــــــــو دی*
- *بيا سر مابنام غيږې ته مه راځـــــه*
- 
- *نن سبا حالات ميني ته جوړ نـــه دي*
- *نن سبا ګلفام غيږې ته مه راځـــــه*
- 
- 
- *ښه يم د يادونو په ځنګل کـــې ورک*
- *ښه يمه ګمنام غيږې ته مه راځـــــه*
- 
- *دا مې هم درمانه غنيمــت ګـڼــــه*
- *اخلم چې سلام غيږې ته مه راځـــه*

غزل

څو چې ته د حسن سرمایه لرې نـــــــګاره

واک کښې به تر هغې زمانه لرې نــــګاره

دا د تورو څڼو خوشبویی د هسې نــــــه ده

ګل سره ضرور کومه رشته لرې نــــګاره

بیا د تورو سترګو ته نرئ سلایی ورکــــړه

بیا د چا مرګې ته اراده لرې نــــــــګاره

زه یم چې د مات زړګی پوښتنه مې ونــکړه

ته یې چې د مات بنګړی دعوه لرې نـــګاره

خدای دربانديې دومره بالا حسن لورولـــــی

خدای که په ټول کلي کښې جوړه لرې نګاره

څه په نه خبره مرور شوې له درمانــــــــه

څومره تنګه لنډه خوصله لرې نــــــګاره

قدرت الله درمان خوست

سرلاری مې د ژوند د انقلاب ته يې جانانه

قربان شم شاعرئ ته مې اسباب ته يې جانانه

منم په دې وطن کښې څه د ښکلو کمی نه دی

خو ما پکښې يواځې انتخاب ته يې جانانه

ته بس په چک ختلی يې اقرار نه کړې کنه وي

مينې ته له مانه ډير بيتاب ته يې جانانه

تل تل چې مې پوښتې چې په د وران کلي کې څه کړم

نو واوره د پوښتنې ته جواب ته يې جانانه

راپيښ چې په محفل شي مفل ټول د سپرلي ورور شي

نرګس ته يې غاټول ته يې ګلاب ته يې جانانه

درمان د خپل زړګي په قاتلانو پسې ګرځي

خبر شه چې په سر کئ يې خساب ته يې جانانه

غزل

کتل مې چې دا ستا د مخ ډیوې ته مخامخ

په خپله مې زړګې کړلو لمبې ته مخامخ

ناري د ياراني کړم زماني ته مخامخ

خو دا خبره کړی نه شم هغې ته مخامخ

نه بل مطلب مې نشته بې له مينې بې له مينې

راځه چې درته ودريږم قيبلې ته مخامخ

انداز د خپل پريمان خايست به خپله درته وشي

لږ وګوره په زير زير ايينې ته مخامخ

دا ستا د مخ په ليد مې وشي داسې د زړه سود

اشنا لکه يو تږی شي چينې ته مخامخ

درمانه د هجران زخم که څو ساتمه پټ

اخير به يې هم درد شي زماني ته مخامخ

په ښــکلوپسې ګرځي چې زړګی په سړي ګران شــــــي
د يـــــوه ګلاب لپاره ټول سپرلي په سړي ګران شـــــــــي

ديـــدن ته چې يې بله بهانه په ورکيــــدو شـــــــــــي
ګــودر په سړي ګران شي او منګی په سړي ګران شــــي
جنــت يې د پښو لاندې دی ډېر لرې پسې مـــــه ځــــــه
چـــې مور په سړي ګرانه شي نو خدای په سړي ګران شي
تعجـــب په د خبره دلته ميـــــــــــنه کـــــــول نشتــــه
پښـــتون چې په چا ګران شو نو مرګی په سړي ګران شي
مينو ته د ســــــــتورو او ډيوو ضـــــــــرورت نـــــه شتــه
په شپه کې سره ويني چې سړی په سړي ګران شـــــــي

ريحــــــــــان چې څوک ورياد کړي په خواب کې ورته وايـــي
پيښيرۍ کله يو نيم ليونی پـــــــه ســــړي ګـــــران شـــي

This document was created with Win2PDF available at http://www.daneprairie.com.
The unregistered version of Win2PDF is for evaluation or non-commercial use only.